
د پوهنې وزارت

د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې
او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# رياضي

## دریم ټولگی






۱ / ۴

۶+۱ < ۶-۱

۱۰ > ۹+۲

۱۱ = ۶+۵

Ketabton.com

د چاپ کال: ۱۳۹ هـ . ش.

**د پوهنې وزارت**
د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې
او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# ریاضي

## دریم ټولگی

د چاپ کال: ۱۳۹۰ هـ . ش.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب د تالیف، څېړنې او تدقیق کمیټې

## لیکوالان:

- سرمؤلف الحاج عبدالله شاه د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د ریاضي دیپارټمنت غړی
- سرمؤلف عبدالکبیر د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د ریاضي دیپارټمنت غړی
- سرمؤلف نظام الدین د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د ریاضي دیپارټمنت غړی

## تایید او مطالعه:

### ملي شورا:

- د ولسي او مشرانو جرګو د دیني، پوهنې او لوړو زده کړو د کمیسیونونو غړي.

## د څېړنې او تدقیق کمیټې:

### پوهنې وزارت:

- سر مؤلف امان الله د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د ریاضي دیپارټمنت غړی.
- سر مؤلف میر نقیب الله د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د څېړنې او ارزونې د دیپارټمنت آمر.
- دوکتور ننګیالی ارسلا د پوهنې وزارت سلاکار.
- محمد عزیز تحریک د پښتو دیپارټمنت آمر، ادیټور.

### ژباړونکی:

سرمؤلف نظام الدین د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د ریاضي دیپارټمنت غړی.

## د محتوا، دیني او سیاسي فرهنګي برخو د څېړنې او بررسۍ کمیټه:

- ډاکټر عطاء الله واحدیار د پوهنې وزارت ستر سلاکار او د نشراتو رئیس.
- دوکتور محمد یوسف نیازی د پوهنې وزارت سلاکار.
- د مؤلف مرستیال محمد سهراب دیدار د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د پښتو دیپارټمنت علمي غړی.

## د څېړنې او تدقیق د څارنې کمیټه:

- دکتور اسدالله محقق د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د روزنې او د ساینس مرکز معین
- دکتور شېر علي ظریفي د تعلیمي نصاب د پراختیا د پروژې مسؤول
- د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر ګلستاني د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی رئیس

**طرح او ډیزاین:** حمیدالله غفاري



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library



## ملي سرود

دا وطــن افغانـــستـان دی — دا عـــزت د هـــر افغـــان دی
کــور د ســولې کــور د تــورې — هـــر بچـــی یـــې قهرمـــان دی
دا وطــن د ټولــو کـــور دی — د بلوڅــــــو د ازبکــــــو
د پـــښتــون او هـــزاره وو — د ترکمنــــــو د تاجکــــــو
ورســره عــرب، ګوجــر دي — پامیــــریان، نورستانیـــــان
براهــوي دي، قزلبــاش دي — هــم ایمـــاق، هــم پــشه یــان
دا هیـــواد بــه تــل ځلیــږي — لکـــه لمـــر پـــر شـــنه آسمـــان
پــه سینــه کــې د آسیـــا بــه — لکــــــه زړه وي جـــــــاویدان
نــوم د حــق مــودی رهبـــر — وایـــو الله اکبـــر وایـــو الله اکبـــر

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بسم الله الرحمن الرحيم**

## د پوهنې د وزير پيغام

**ګرانو ښوونکو او زده کوونکو،**

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختيا او پرمختګ بنسټ جوړوي. تعليمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د علمي پرمختګ او ټولنې د اړتياوو له مخې رامنځته کيږي. څرګنده ده چې علمي پرمختګ او ټولنيزې اړتياوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعليمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف ومومي. البته نه ښايي چې تعليمي نصاب د سياسي بدلونونو او د اشخاصو د نظريو او هيلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتيب شوی دی. علمي ګټورې موضوعګانې پکې زياتې شوې دي. د زده کړې په بهير کې د زده کوونکو فعال ساتل د تدريسي پلان برخه ګرځيدلې ده.

هيله من يم دا کتاب له لارښوونو او تعليمي پلان سره سم د فعالې زده کړې د ميتودونو د کارولو له لارې تدريس شي او د زده‌کوونکو ميندې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکيفيته ښوونه او روزنه کې پرله پسې ګډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هيلې ترسره شي او زده‌کوونکو او هېواد ته ښې برياوې ور په برخه کړي.

زه پر دې ټکي پوره باور لرم چې زموږ ګران استادان او ښوونکي د تعليمي نصاب په رغنده پلي کولو کې ستره ونده او دروند مسؤوليت لري.

د پوهنې وزارت تل زيار کاږي چې د پوهنې تعليمي نصاب د اسلام د سپيڅلي دين له بنسټونو، د وطن دوستی د پاک حس په ساتلو او علمي معيارونو سره سم د ټولنې د څرګندو اړتياوو له مخې پراختيا ومومي.

په دې ډګر کې د هېواد له ټولو علمي شخصيتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده‌کوونکو له ميندو او پلرونو څخه هيله لرم چې د خپلو نظريو او رغنده وړانديزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تاليف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې ددې کتاب په چمتو کولو او ترتيب کې يې مرسته کړې، له ملي او نړيوالو درنو موسسو، او نورو ملګرو هېوادونو څخه چې د نوي تعليمي نصاب په چمتو کولو او تدوين او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې يې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفيق

فاروق وردګ

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د پوهنې وزير

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب د محتوا فهرست


| شمېره | عنوانونه | مخ |
|---|---|---|
| | **لومړی فصل** | |
| ۱ | د عددونو مقامي قيمت | ۱ |
| | **دوهم فصل** | |
| ۲ | تجسس او تخمين کول | ۹ |
| | **دريم فصل** | |
| ۳ | د عددونو لوستل او ليکل له (۱۰۰۰) څخه تر (۱۰۰۰۰۰) پورې | ۱۱ |
| ۴ | د عددونو پيژندنه له ۱۰۰۰۰ څخه تر ۱۰۰۰۰۰ پورې | ۱۵ |
| | **څلورم فصل** | |
| ۵ | د جمعې په عمليې کې د لس دانه ييزو ګروپونو له جوړولو څخه کار اخستل | ۱۸ |
| ۶ | د څو رقمي عددونو جمع چې د جمعې حاصل يې له ۱۰۰۰۰۰ زيات نشي | ۲۰ |
| ۷ | د هغو عددونو جمع چې له دوو جزو څخه زياتې اجزاوې ولري | ۲۲ |
| ۸ | د جمعې د عمليې آزمايل | ۲۴ |
| | **پنځم فصل** | |
| ۹ | له يو بل څخه د دوه رقمي، دري رقمي او څلور رقمي عددونو تفريق | ۲۶ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱۰ د تفریق د عملیې سرته رسول د پور کولو (قرض) د اړتیا په صورت کې ۲۸

۱۱ د تفریق د عملیې آزموینه ........................................ ۳۳

**شپږم فصل**

۱۲ د عددونو د خط پیژندنه ........................................ ۳۵

۱۳ د دوولسونو په شا او خوا کې د عددونو پرتله ................ ۳۷

۱۴ د عددي خط څخه په کار اخستنې سره د جمعې عملیه .... ۳۹

۱۵ د عددي خط څخه په کار اخستنې سره د تفریق عملیه..... ۴۰

**اووم فصل: ضرب**

۱۲ د ضرب د عملیې د مفهوم پیژندنه ................................ ۴۲

۱۷ د ۲ او ۷ د ژبني ضرب جدول پیژندنه ......................... ۴۲

۱۸ د ۸ ، ۹ او ۱۰ عددونو د ژبني ضرب جدول پیژندنه ........ ۴۹

۱۹ له (۱-۱۰) د ژبني ضرب له جدول څخه د کار اخیستلو طریقه. ۵۲

۲۰ د ضرب په عملیه کې د بدلون (تبدیلي) خاصیت ............ ۵۵

۲۱ د یوه عدد ضربول په ۱ ، ۱۰ او ۱۰۰ کې ................... ۵۷

۲۲ د ۱۰ او ۱۰۰ ضربول په یوه عدد کې.......................... ۵۹

**اتم فصل: د اندازه کولو واحدات**

۲۳ د اوږدوالي د اندازه کولو واحد (متر)......................... ۲۳

۲۴ د سانتي متر پیژندنه............................................ ۲۵

۲۵ د دیسي متر پیژندنه ................................ ۲۷

۲۲ د ملي متر پیژندنه ............................................ ۲۸

۲۷ د کیلو متر پیژندنه ........................ ۷۰


## نهم فصل: هندسه


۲۸ په شکلونو کې د ټکي (نقطې) ټوټه خط، نیمايي خط او خط پیژندنه ........................ ۷۱

۲۹ د خط د ډولونو پیژندنه ........................ ۷۴

۳۰ د زاویو د ډولونو پیژندنه ........................ ۷۲


## لسم فصل


۳۱ د خلاصو او تړلو شکلونو پیژندنه ........................ ۸۰

۳۲ تخمیني او دقیق اندازه کول ........................ ۸۲

۳۳ د مربع، مستطیل او مثلث د محیط (چاپیریال) پیدا کول ۸۴


## یوولسم فصل: د کتلې، وخت او مایعاتو اندازه کول


۳۴ د کتلې د اندازه کولو واحد (کیلو ګرام) ۸۷

۳۵ د ساعت (ګړۍ) پیژندنه ........................ ۹۱

۳۶ د ساعت په واسطه د وخت ټاکل ........................ ۹۵

۳۷ د اونۍ – میاشت او کال پیژندنه ........................ ۹۸

۳۸ د جنتري پیژندنه ........................ ۹۹

۳۹ د لیتر پیژندنه ........................ ۱۰۳

۴۰ د یوه رقمي عددونو ضرب کول په څو رقمي عددونو کې . ۱۰۵

۴۱ د دوه رقمي عددونو ضرب کول په دوه رقمي عددونو کې ۱۰۷




(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دولسم فصل


۴۲ د ویش (تقسیم) د عملیې پېژندنه ................................ ۱۱۴

۴۳ د دوه رقمي عددونو ویشل په یوه رقمي عددونو باندې .. ۱۱۷

۴۴ د دري رقمي عددونو ویشل په یوه رقمي عدد باندې ...... ۱۲۱

۴۵ د ضرب او ویش د عملیو آزموینه د یو بل په واسطه .......... ۱۲۴


## دیارلسم فصل : کسر


۴۲ د کسر پېژندنه ........................................................ ۱۲۷


# لومړی فصل

## د عددونو مقامي قيمت


**لومړی لوست: د عددونو مقامي قيمت**

**هدف:** زده کوونکي دې د يوه رقم مقامي قيمت په اړوندو مرتبو کې تشخيص کړای شي.

ګرانو زده کوونکو تاسو مخکې د يويزو، لسيزو او سليزو مرتبې پيژندلې دي دا چې د عددونو په ليکلو کې د مرتبو پيژندل مهم دي يو ځلې بيا د هغو يادونه کوو.



١٠٠ ١٠ ١



١٠٠ ۴٠ ٦

پورته شکل د ١۴٦ عدد ښيي په داسې حال کې چې ٦ دانې غنم د ٦ عدد، او ۴ د غنمو ١٠ دانه يي وږي د ۴٠ عدد او د غنمو يو سلي وږي د ١٠٠ عدد ښيي چې په جدول کې په لاندې توګه ښودل کيږي.


| يويز | لسيز | سليز |
|---|---|---|
| ٦ | ۴ | ١ |



(c) ketabton.com: The Digital Library

## مشق او تمرین

۱. لاندې شکلونه په نظر کې ونیسئ. د هغو له مخې لاندې تش ځایونه ډک کړئ.




یویز ☐ لسیز او ☐ سلیز، ټوله ☐ کیږي.

لاس ته راغلی عدد څو رقمي دی؟ دغه رقمونه د لاندې جدول په اړوند مرتبو کې ولیکئ.

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| | | |


۲. لاندې شکلونه په نظر کې ونیسئ. د جدول تش ځایونه په مناسبو عددونو سره ډک کړئ.



۳ لسیز او ۲ سلیز ☐ کیږي دا عدد په لاندې جدول کې ولیکئ.

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| | | |

۳. د لاندې شکلونو له مخې تش ځایونه په خپلو کتابچو کې ډک کړئ.



یویز ☐ لسیز ☐ سلیز ټول ☐ کیږي دا عدد په لاندې جدول کې وښیاست.

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| | | |



(c) ketabton.com: The Digital Library



**پوښتنې:**

۱- د لاندې مثال سره سم تش ځایونه په خپلو کتابچو کې ډك کړئ.




مثال: ۸ یویز ۹ لسیز ۳ سلیز [۳۹۸] کیږي.

۶ یویز ۵ لسیز ۹ سلیز [ ] کیږي.

۹ یویز ۹ لسیز ۸ سلیز [ ] کیږي.

۲- د لاندې مثال څخه په کاراخستنې سره تش ځایونه په خپلو کتابچو کې ډك کړئ.




| | عدد | | یویز | لسیز | سلیز |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱- مثال: | ۷۸۲ | = | ۲ | ۸ | ۷ |
| ۲- مثال: | ۸۹ | = | ۹ | ۸ | ۰ |
| | ۷۰ | = | | | |
| | ۲۰۶ | = | | | |
| | ۷۶۰ | = | | | |
| | ۹۵۲ | = | | | |

۳- لاندې هر یو عدد په خپلو کتابچو کې په رقم سره ولیکئ.

- دوه اویا
- پنځه سوه څلوراتیا
- دوه سوه پنځه دیرش
- شپږ پنځوس
- اووه سوه څلور څلویښت
- پنځه سوه درویشت



۴- لاندې عددونه ولولئ او هر يو په خپلو کتابچو کې په حروفو وليکئ.




| | |
|---|---|
| ۷۴٦ | ................................... |
| ٦۴۲ | ................................... |
| ۷۰۷ | ................................... |
| ۹۰۲ | ................................... |
| ۴۳۰ | ................................... |
| ۱۲۳ | ................................... |

۵- د ۴ او ٦ په عددونو سره څو دوه رقمي عددونه ليکلای شئ؟

٦- د ۲۰۰ او ۲۵۰ عددونو په منځ کې ټول هغه عددونه چې د ۵ رقم ولري وليکئ.


۷- فهيم ۳۳ افغانۍ لري د ښي لوري د ۳ رقم ته او هم د کين لوري د ۳ رقم ته ځير شئ.

الف: وواياست چې دا دواړه رقمونه يو له بله سره څه توپير لري؟ ...........................................................

ب: د دواړو رقمونو ارزښت يو شی دی؟ ..........................

ج: د نومورې عدد ښي او کين لوري رقمونه په عملي توګه د لرګوټو په واسطه وښياست؟


د: د نومورې عدد رقمونه په چوت کې وښياست.






(c) ketabton.com: The Digital Library

هـ: د ۱۰۰ عدد په چوټ کې وښیاست.




**۸- لاندې عددونه په نظر کې ونیسئ.**

الف ـ د ٦٦ په عدد کې څو یویز او څو لسیز شتوالی لري؟ ..........................................

ب ـ د ٦۰٦ په عدد کې څو یویز، څو لسیز او څو سلیز شتوالی لري؟ ....................................

ج ـ د اووه نوي په عدد کې څو یویز او څو لسیز شتوالی لري؟ ...............................................

د ـ د اته سوه په عدد کې څو یویز او څو لسیز شتوالی لري؟ .......

هـ ـ د دوه رقمي تر ټولو په کوچني عدد کې څو یویز او څو لسیز شتوالی لري؟ ..........................

و ـ د دوه رقمي تر ټولو په لوی عدد کې څو یویز او څو لسیز شتوالی لري.

## په ټولګي کې د زده کوونکو فعالیت

دلاندې شکلونو یا کارتونو په ډول د ۳،۲،۱ عددونه په نظر کې ونیسئ څو څو دری رقمي عددونه لیکلای شئ، او هم د هغو تر ټولو د کوچنی او تر ټولو د لویو عددونو نومونه واخلئ.




ترټولو کوچنی عدد ------

ترټولو لوی عدد ------



(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلی ښـــوونکی دي د زده کوونکـو څخــه درې تنــه د ټـولګي مخې ته ودروي. او هريوه ته دې د ۱، ۲، ۳ يو يو کارت ورکـړي. او له هغو څخــه دې وغــواړي چــې خپـل اړونـد کـارت خپلـو ټولګيوالو ته وښيي. بيا دې ښــاغلی ښـــوونکی لـه زده کوونکـو څخه پوښتنه وکړي. تاسو د کارتونو په واسطه کوم درې رقمي عـدد ليکلای شئ. په دوهم وار دې د زده کوونکـو ځايونـه بـدل کړي، او لاس ته راغلی عدد دې په جدول کې وليکــي پـه همـدې ډول دې د ځايونو بدلولو ته ادامه ورکړي او د هر بـدلون عــدد دې تر هغه وخت پورې په جدول کې وليکي چې لاس ته راغلی عـدد تکراري راشي. او په پای کې دې وشــميري چــې څــو درې رقمی عــددونه د ۱، ۲، ۳ عــددونو څخه لاس ته راغلي دي او يــو له بله سره دې پرتله کړي. د مقامي قيمت يا مقامي ارزښت پـه نظر کې نيولو سره دې ترتيب کړي.

**کورنۍ دنده**

د ۴، ۵، ٦ عـددونو څخه څو درې رقمي عـددونه لاس ته راځي په خپلـو کتـابچو کې يې وليکئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ټولګي کې د زده کوونکو فعالیت

۱- د مثال په توګه دواړه مساوي عددونه په خپلو کتابچو کې یو له بله سره ونښلوئ.

| ۱۳یویزاو ۲ لسیز | ۴یویزاو ۷ لسیز | ۲ یویزاو ۵ لسیز |
|---|---|---|
| ۱۴ یویزاو ۲ لسیز | ۱۲ یویزاو ۴ لسیز | ۳ یویزاو ۷ لسیز |

۲- د حل شوي مثال څخه په کار اخیستنې سره د ښي لوري جدولونه د کیڼ لوري له جدولونو څخه داسې بشپړ کړئ چې هر رقم یې په خپله مرتبه کې راشي.

مثال:

| یویز | لسیز | سلیز |
|---|---|---|
| ۲ | ۴ | |

→

| یویز | لسیز | سلیز |
|---|---|---|
| ۱۲ | ۳ | |

| یویز | لسیز | سلیز |
|---|---|---|
| | | |

→

| یویز | لسیز | سلیز |
|---|---|---|
| ۳ | ۱۷ | |

| یویز | لسیز | سلیز |
|---|---|---|
| | | |

→

| یویز | لسیز | سلیز |
|---|---|---|
| ۱۳ | | ۲ |

۳- د لاندې مثال په ډول د پوښتنو ځوابونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

مثال: د ۳۵ د عدد ارقام په کومو مرتبو کې قرار لري؟ (۵ د یویزو په مرتبه کې او ۳ د لسیزو په مرتبه کې).

- د ۷٦ د عدد ارقام په کومو مرتبو کې قرار لري؟..........................او ............
- د ٦۴۵ د عدد ارقام په کومو مرتبو کې قرار لري؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

په خپله خوښه یو عدد ولیکئ چې په هغه کې یوېز، لسیز شتوالی ولري او وواياست چې دا عدد څو رقمي دی؟

- په شمېرلو کې د ۵۹ له عدد څخه وروسته کوم عدد راځي؟
- په شمېرلو کې د ۹۹ له عدد څخه وروسته کوم عدد راځي؟
- په شمېرلو کې د ۹۹۹ له عدد څخه مخکې کوم عدد راځي؟
- د ۹۹۹ عدد څو رقمي دی؟

کورنۍ دنده

د ۴۰۰ او ۵۲۰ په منځ کې هغه عددونه ولیکئ چې د یوېز و رقمونه یې ۵ وي؟






(c) ketabton.com: The Digital Library

## دويم لوست: تجسس او تخمين کول

**هدف:** زده کوونکي وکړای شي مخکې تر شمېرلو د تخمين په واسطه د شيانو مقدار په تقريبي توګه پيدا کړي. وروسته له دقيق شمېرلو قيمت يې وليکي.

مونږ ځني وخت مقدارونه تخمين کوو او بيا د شميرلو په واسطه دقيقه اندازه د يويزو او لسيزو په شکل تاکو. او ګورو چې زمونږ تخمين په کومه اندازه حقيقت ته نژدې دی. په حقيقت کې تخمين کول يو هوښيارانه سوچ يا حدس دی چې د ذهن د انکشاف لپاره مهم ګڼل کيږي. عموماً په کورنيو کې د کوچنيانو د ساعت تيرۍ د پاره ډيره ښه ده. مثلاً که چيرې په کورنۍ کې زرد آلو وخوړل شي او د هغو مندکې (زړي) سره يو ځای کړي او خپلو کوچنيانو ته ووايې. څو دانې موخوړلي دي؟ چا زياتې خوړلي دي؟ چا لږې خوړلي دي؟ هر يو د خپل ذهن سره سم يو عدد وايي په پای کې دقيق شميرل کيږي. او ليدل کيږي چې د کوم يوه تخمين حقيقت ته نژدې دی؟






(c) ketabton.com: The Digital Library

## مشق او تمرین

ښاغلی ښوونکی دې یو نا معلوم مقدار د لوبیا دانې، یا د زرد آلو مندکې، د هندوانې یا ختکی او یا کدو زړي ټولګي ته راوړي او د ټولګي مخې ته دې کښیږدي، ټولو زده کوونکو ته دې وښیي. او هغه دې په یوه پاکټ یا کڅوړه کې واچوي. بیا دې زده کوونکي په ګروپونو باندې وویشي. داسې دې ورته ووایي.

۱. هرګروپ دې جدول وکاږي.

۲. د ګروپ هریو تن دې د پاکټ یا کڅوړې د شي مقدار په تخمیني توګه وټاکي.

۳. دهر ګروپ جدول دې د ټولګي مخې ته زوړند شي.

۴. له هر ګروپ څخه دې یو، یو تن راشي د پاکټ یا کڅوړې د ننه مواد دې داسې وشمیري چې لومړی دې، لس، لس جلا کړي چې څو لسه او څو یو دانه یې دي.

۵. د شمیر حقیقي اندازه دې د ګروپونو د تخمین له جدول سره پرتله کړي.

۶. کوم ګروپ او کوم زده کوونکی د مسابقې وړونکی کیږي هغه ګروپ او هغه زده کوونکی دې تشویق شي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویم فصل

## له (۱۰۰۰) څخه تر (۱۰۰۰۰۰) پورې د عددونو لوستل او لیکل

### دریم لوست: د عددونو پیژند نه له ۱۰۰۰ څخه تر ۱۰۰۰۰۰ پورې

**هدف:** زده کوونکي وکړای شي عددونه له ۱۰۰۰ څخه تر ۱۰۰۰۰۰ پورې ولولي وشمیرې او ولیکي.

ګرانو زده کوونکو تاسو پوهیږئ چې د ۹ له عدد وروسته د (۱۰) عدد راځي. دا عدد، د یویز او لسیز د مرتبو لرونکی دی ویلای شي چې تر ۹۹ پورې دوه رقمي عددونه دي او د ۹۹ له عدد وروسته د ۱۰۰ عدد راځي چې د یویز، لسیز او سلیز دري مرتبو لرونکی دی که چیرې د هغو په ټولو مرتبو کې د ۹ عدد ولیکل شي د ۹۹۹ عدد لاس ته راځي. دا دري مرتبې لومړی طبقه (د یویزو طبقه) بلل کیږي تا سو له ۱ څخه تر ۹۹۹ پورې ټول عددونه په دوهم ټولګي کې لوستلي دي چې په همدې طبقې پورې اړه لري. که چیرې په ۹۹۹ باندې د یوه عدد ور زیات کړو د ۱۰۰۰ عدد لاس ته راځي چې دا عدد څلور رقمونه لري چې څلورم رقم یې د (۱) عدد او په دوهمې طبقې پورې اړه لري تا سو په لاندې جدول کې دوه طبقې لیدلای شئ چې هره طبقه یې دري مرتبې د (یویز، لسیز او سلیز) لري.

| عدد | لومړی طبقه ( د یویزو طبقه) | | | دوهمه طبقه ( زریزو طبقه ) | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | د یویزو مرتبه | د لسیزو مرتبه | د سلیزو مرتبه | د زریزو مرتبه | د لس زریزو مرتبه | د سل زریزو مرتبه |
| ۹۹ | ۹ | ۹ | | | | |
| ۱۰۰ | ۰ | ۰ | ۱ | | | |
| ۹۹۹ | ۹ | ۹ | ۹ | | | |
| ۱۰۰۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۱ | | |
| ۲۰۰۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۲ | | |
| . . . . | . . . . | . . . . | . . . . | . . . . | | |
| ۹۰۰۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۹ | | |



(c) ketabton.com: The Digital Library

که چیرې اوس په دوهمه طبقه کې د یو زریزو مرتبې ته پاملرنه وکړئ لیدل کیږي چې د (۱) عدد په همدې طبقه کې دی او د لومړۍ طبقې ټولې مرتبې یې صفر دي چې یو زر لوستل کیږي. که چیرې د (۱) د عدد په ځای د ۲، ۳، ۴، ۵، ۶، ۷، ۸ او ۹ عددونه ولیکو د ۲۰۰۰، ۳۰۰۰، ۴۰۰۰، ۵۰۰۰، ۶۰۰۰، ۷۰۰۰، ۸۰۰۰ او ۹۰۰۰ عددونه حاصلیږي.

تاسو پوهیږئ چې د پورته عددونو صفرونه په لومړۍ طبقې پورې اړه لري که چیرې د لومړۍ طبقې د صفرونو په ځای د ۱، ۲، ۳، ۴، ۵، ۶، ۷، ۸ او ۹ مختلف عددونه ولیکل شي په دې صورت کې د ۲۰۰۱، ۲۰۱۱، ۳۰۶۳، ۴۰۲۰، ۸۲۵۱، ۹۹۹۹ ... عددونه په لاس راځي.







د یویزو مرتبه    د لسیزو مرتبه    د سلیزو مرتبه    د یوزریزو مرتبه




الف: هغه عدد چې د پورتنیو ۴ کارتونو څخه په لاس راځي ولیکئ.


ب: نوموړی عدد څو رقمونه لري؟

ج: نوموړی عدد ولولئ او په حروفو باندې یې ولیکئ.

د: د صفر کارت په کومه مرتبه کې موقعیت لري؟ د لوستلو په وخت کې تلفظ کیږي او که نه؟



(c) ketabton.com: The Digital Library



**پوښتنې:**




۱- د ۱۲۷۴، ۳۰۰۲ او ۲۰۵٦ عددونه ولولئ او په حروفو یې ولیکئ د نوموړو عددونو رقمونه په خپلو کتابچو کې د لاندې جدول په واسطه په اړوند مرتبو کې ولیکئ.

| زرریز | سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|---|
| | | | |

۲- د یوزرو دوه، او وه زرو پنځه اتیا، او نه زرو اته سوه درې څلویښت عددونه په رقم سره ولیکئ او په جدول کې وښیاست چې د هر یوه د سلو په مرتبه کې کوم رقم راغلی دی؟

| زرریز | سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|---|
| | | | |

۳- کله چې تا سو، نهه زره او درې واياست په یوه جدول کې وښیاست چې د ۹ رقم په کومه طبقه او مرتبه کې او همدارنګه د ۳ رقم په کومه طبقه او مرتبه کې قرار لري او هغه مرتبې چې نه لوستل کیږي کومې دي او په هغو کې کوم رقم قرار لري؟

| زرریز | سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|---|
| | | | |

۴- د پنځه زرو او وه عدد ولیکئ. په جدول کې یې وښیاست او رقمونه یې په اړوندو مرتبو کې ولیکئ.

| زرریز | سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|---|
| | | | |

**کورنۍ دنده**

هر یو زده کوونکی دې د طبقو یو جدول رسم کړي د ۲۰۰۷، ۳۰۱٦، او ۱۸۸۷ عددونو رقمونه دې په اړوندو مرتبو کې ولیکي او هم دې نوموړي عددونه په تورو سره ولیکي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵- اته زره نهه سوه نهه ویشت په رقم سره ولیکئ او رقمونه یې په لاندې جدول کې په اړوندو مرتبو کې ولیکئ.

| یویز | لسیز | سلیز | زریز |
|---|---|---|---|
| | | | |

٦- څلور زره یو سلو شپږ په رقم سره ولیکئ او رقمونه یې په لاندې جدول کې په اړوندو مرتبو کې ولیکئ.

| یویز | لسیز | سلیز | زریز |
|---|---|---|---|
| | | | |

۷- اته زره اووه سوه شپږ نوي په رقم سره ولیکئ او رقمونه یې د جدول په اړوندو مرتبو کې ولیکئ.

| یویز | لسیز | سلیز | زریز |
|---|---|---|---|
| | | | |

۸- نهه زره نوي د جدول په اړوند مرتبو کې ولیکئ.

| یویز | لسیز | سلیز | زریز |
|---|---|---|---|
| | | | |

۹- نهه زره نهه سوه نهه نوي د جدول په اړوند مرتبو کې ولیکئ او هم د ۸ ، او ۹ ګڼو پوښتنو د مرتبو په منځ کې توپیر په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

| یویز | لسیز | سلیز | زریز |
|---|---|---|---|
| | | | |

کورنۍ دنده

څرنګه چې د ۹۹ په عدد باندې د (۱) عدد ورزیات شو د ۱۰۰ عدد په لاس راغلی که چیرې د ۹۹۹ په عدد باندې د (۱) عدد زیات شي کوم عدد لاس ته راځي او څو رقمي دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورم لوست

## د عددونو پیژندنه له ۱۰۰۰۰ څخه تر ۱۰۰۰۰۰ پورې

هدف: زده کوونکي وکړای شي تر ۱۰۰۰۰۰ پورې عددونه ولولي او ولیکي.

ګرانو زده کوونکو تا سو د ۹۹۹۹ عدد پیژندلی دی که چېرې اوس په دې عدد باندې د (۱) عدد زیات کړو د ۱۰۰۰۰ عدد په لاس راځي چې دا عدد یو پنځه رقمي عدد دی او د (۱) عدد رقم د دویمې طبقې د لس زریزو په مرتبه کې قرار لري. که چیرې اوس د لس زریزو په مرتبه کې د (۱) د عدد په ځای د ۲، ۳، ۴، ۵، ٦، ۷، ۸ او ۹ عددونه ولیکو د ۲۰۰۰۰، ۳۰۰۰۰، ۴۰۰۰۰، ۰۰۰۰، ۹۰۰۰۰ عددونه په لاس راځي. او س که چیرې د ۹۰۰۰۰ د لومړۍ طبقې د یویزو په مرتبه کې د۱، ۲، ۳، ۴، ۵، ٦، ۷، ۸ او ۹ عددونه ولیکو د ۹۰۰۰۱، ۹۰۰۰۲، ۹۰۰۰۳، ۰۰۰۰، ۹۰۰۰۹ عددونه په لاس راځي . همدارنګه که چیرې د ۹۰۰۰۹ عدد د لسیزو، سلیزو او زریزو په مرتبو کې د ۱، ۲، ۳، ۰۰۰۰۰، ۹ رقمونه ولیکو د ۹۰۷٦۸، ۹٦۰۲۵، ۹۷۵۴۲، ....۹۹۹۹۹ عدد په لاس راځي که چیرې د ۹۹۹۹۹ په عدد باندې د ..... (۱) عدد ورزیات شي د ۱۰۰۰۰۰ عدد په لاس راځي تاسو کولای شئ ځني عددونه د لاندې جدول په اړوند طبقو او مرتبو کې مطالعه کړئ.

| لومړۍ طبقه (دیویزو طبقه) | | | دوهمه طبقه (د زریزو طبقه ) | | |
|---|---|---|---|---|---|
| د یویزو مرتبه | د لسیزو مرتبه | د سلیزو مرتبه | د زریزو مرتبه | د لس زریزو مرتبه | د سل زریزو مرتبه |
| ۹ | ۹ | | | | |
| ۰ | ۰ | ۱ | | | |
| ۹ | ۹ | ۹ | | | |
| ۰ | ۰ | ۰ | ۱ | | |
| ۹ | ۹ | ۹ | ۹ | | |
| ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۱ | |
| ۹ | ۹ | ۹ | ۹ | ۹ | |
| ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۱ |

کورنی دنده

هریو زده کوونکی دې د طبقو یو جدول رسم کړي د ۱۲۰۵، ٦۰۰۰۳، ۱۲۸۰۱ عددونه دې د اړوندو طبقو په مرتبو کې وښیي.

**مشق او تمرين**

د لاندې تش ځايونه په مناسبو رقمونو سره د حل شوي مثال په ډول په خپلو کتابچو کې ډك کړئ.

مثال: شپږ او يا زره دوه سوه

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ٧ | ٢ | ٢ | ٠ | ٠ |

پوښتنې:

١) شل زره

٢) اوولس زره شپږ سوه پنځه څلوېښت

٣) دوه دېرش زره

۴) اته ويشت زره پنځه دېرش

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ |
| ١ | | ٢ | | ۵ |
| ٣ | ٢ | | | |
| ٢ | | | | ۵ |

لاندې عددونه لكه حل شوى مثال په حروفو باندې وليكئ.

مثال: ٣٨٩٣٠ – اته دېرش زره نهه سوه دېرش

١- ٦۵٠٠۴ ............................

٢- ٧٣٦۴٢ ............................

٣- ١٠٠٠٠٠ ..........................

۴- ٨٧٠٠٧ ............................

۵- ٩٩٩٩٩ ...........................

**کورنۍ دنده**

زده کوونکى دې يو طبقاتي جدول په خپلو کتابچو کې رسم کړي بيا دې لاندې عددونه د جدول په اړوندو مرتبوکې وليکي او هم دې په تورو وليکى.

٣۴٠٠٣، ١٠٠٠٠٠، ٩۵٩٩٩



(c) ketabton.com: The Digital Library

**پوښتنې:**

۱- څو عددونه ولیکئ چې د هغو د سلیزو په مرتبه کې ۹ او د لسیزو په مرتبه کې یې ۳ وي.

۲- یو عدد ولیکئ چې د سلیزو په مرتبه کې ۴ او د یوزریزو په مرتبه کې یې ۲ وي.

۳- یو عدد ولیکئ چې د یویزو په مرتبه کې ۴ او د لس زریزو په مرتبه کې یې ۷ وي.

۴- یو عدد ولیکئ چې د لس زریزو په مرتبه کې ۴ او د سلیزو په مرتبه کې یې ٦ وي کوم عدد دی؟

۵- یو عدد ولیکئ چې د لس زریزو په مرتبه کې ۹ وي او هم وواياست چې دا عدد څو رقمونه لري؟

۶- که چیري د سلو زرو په مرتبه کې د (۱) رقم قرار ولري د لومړۍ او دویمې طبقې په نورو مرتبو کې صفر وي کوم عدد لاس ته راځي؟

۷- په خپلو کتابچو کې یوطبقاتي جدول رسم او د ٦۰۷۰۴ عدد د لاندې جدول په اړوندو مرتبو کې ولیکئ.

| سل زریز | لس زریز | زریز | سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | |




(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریم فصل: جمع


**پنځم لوست: د جمعې په عملیې کې د لس دا نه بیزو ګروپونو له جوړولو څخه کار اخیستل**

هدف: زده کوونکي وکړای شي د جمعې عملیه د لسونو د ګروپونو په جوړولو سره سرته ورسوي.

لاندې شکلونه او د هغو اړوند عملیو ته پاملرنه وکړئ.




۹+۷ =۱۰+ ۶ =۱۶



۸+۶=۱۰+۴=۱۴

**په ټولګي کې د زده کوونکو فعالیت**

د حل شوي مثال په ډول کار وکړئ او تش ځایونه ډک کړئ.



☐+☐=☐+☐=☐



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library




۱- لاندې مثال په نظر کې ونیسئ او د هغه سره سم د جمعې د عملیې په نظر کې نیولو سره تش ځایونه په خپلو کتابچو کې ډک کړئ.

مثال: ۱۳ = ۳ + ۱۰ = ۷ + ۲

___ = ___ + ۱۰ = ۲ + ۵ ، ___ = ___ + ۱۰ = ۹ + ۷

___ = ___ + ۱۰ = ۲ + ۹ ، ___ = ___ + ۱۰ = ۷ + ۸

___ = ___ + ۱۰ = ۹ + ۸

---

۲- د پورته مثال په ډول د لسو په جوړولو سره لاندې تش ځایونه په خپلو کتابچو کې ډک کړئ.

مثال: ۱۴ = ۴ + ۱۰ = ۲ + ۸

۱۳ = ___ + ___ = ۴ + ۹ ، ۱۵ = ___ + ___ = ۸ + ۷

۱۲ = ___ + ___ = ۹ + ۳ ، ۱۷ = ___ + ___ = ۷ + ۹

۱۳ = ___ + ___ = ۲ + ۷

۳- د جمعې په عملیه کې لاندې تش ځایونه ډک کړئ.

___ = ۴ + ___ = ۸ + ۶

___ = ___ + ۱۰ = ۷ + ۳

___ = ۰ + ___ = ۶ + ۴




څو عددونه پیدا کولای شو چې د ۴ سره جمع شي او د جمعې حاصل یې ۱۰ شي.

# شپږم لوست: د څو رقمي عددونو جمع چې د جمعي حاصل یې له ۱۰۰۰۰۰ زیات نشي

هدف: زده کوونکي وکړای شي د څو رقمي عددونو د جمعي حاصل په لاس راوړي.

- زده کوونکي پوه شي چې په هره مرتبه کې یوازې یو رقم لیکلای شو.

**پاملرنه وکړئ:** تاسو د حاصل لرونکو عددونو جمع په کوچنیو عددونو کې په دوهم ټولګي کې ولوستل او زده مو کړل، د جمعې دا عملیه په لویو عددونو کې داسې په نظر کې ونیسئ.

مثال:

```
  ①①  ①
  ۲ ۵ ۳ ۴
+ ۶ ۷ ۶ ۷
─────────
۹ ۳ ۰ ۱
```

| زرزیز | سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|---|
| ① | ① | ① | |
| ۲ | ۵ | ۳ | ۴ |
| + ۶ | ۷ | ۶ | ۷ |
| ۹ | ①۳ | ①۰ | ①۱ |

**په ټولګي کې د زده کوونکو فعالیت**

مخامخ پوښتنې حل کړئ:

```
  ۶۴۳۵        ۵۸۴۳        ۷۳۲۱
+ ۱۵۸۶      + ۶۰۸۰      + ۲۶۰۹
──────      ──────      ──────
```

کورنۍ دنده

لاندې پوښتنې حل کړئ.

```
  ۲۷۰۳        ۱۰۸۷        ۳۴۰۵۶
+ ۹۶۱۹      +  ۹۹۴      + ۶۴۹۶۷
──────      ──────      ───────
```



(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- د حاصل څخه په کار اخستنې سره لاندې پوښتنې حل کړئ.

| | | |
|---|---|---|
| ۱۴۴۳ | ۱۰۰۴۷ | ۳۴۵۶ |
| + ۱۸۵۸ | + ۹۹۹۳ | + ۴۰۹۰۷ |
| ▢ | ▢ | ▢ |

۲- پوښتنې خپلو کتابچو ته نقل او په تشو ځایونو کې مناسب عددونه ولیکئ.

| | | |
|---|---|---|
| ▢ ▢ ▢ | (۱) (۱)<br>▢ ۷ ۳ | (۱)<br>۸ ۸ ۶ |
| + ۴ ۷ ۸ | + ۳ ۴ ▢ | + ▢ ۰ ▢ |
| ۴ ۷ ۸ | ۵ ۲ ۲ | ۱۳ ۹ ۴ |

| | | |
|---|---|---|
| (۱) (۱)<br>۶ ۷ ۸ | (۱)<br>۸ ۷ ۶ | (۱)<br>۷ ▢ ▢ ۶ |
| + ۳ ۲ ▢ | + ▢ ▢ ▢ | + ۴ ۳ ▢ |
| ۱۰ ۰ ۱ | ۱۱ ۰ ۹ | ۷ ۷ ۹ ۰ |

۳- احمد ۲۸ افغانۍ لري پلار یې د سودا را نیولو لپاره ۷۰۶ افغانۍ ورکړې اوس د احمد سره څو افغانۍ شته؟

---

۴- په یوه بڼ کې د بادامو ۱۸۰۰ نیالګي او د زردآلانو ۵۵۰ نیالګي شته، معلوم یې کړئ چې په بڼ کې ټول څو نیالګي دي؟

---

۵- کریم له ذبیح څخه ۱۸۰ افغانۍ زیاتې لري. که چیرې ذبیح ۳۸۰ افغانۍ ولري د کریم پیسې معلومې کړئ.

---

۶- د اختر په ورځ پلار خپل زوی کریم ته ۵ افغانۍ او نورو ۴ وروڼو یې هم هر یوه کریم ته ۵،۵ افغانۍ ورکړې معلوم یې کړئ چې اوس کریم څو افغانۍ لري؟

---

**کورنی دنده**

د پوښتنې په ډول یوه عبارتي پوښتنه ترتیب او حل کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# اووم لوست: د هغو عددونو جمع چې له دوو جزو څخه زيات ولري

هدف: زده کوونکي وکړای شي د جمعې عمليه چې له دوو جزو څخه زيات اجزاوي ولري سرته ورسوي.




**په ټولګي کې د زده کوونکو فعاليت**

۱- جمع يې کړئ.

الف:
۳۴۷
۱۰۰
۱۲۳
+ ۱۴۷

ب:
۱۰۱
۲۳۴
۵۶
+ ۱۲

ج:
۳۴۷
۱۱۲
+ ۶۲۳

۲- تول هغه عددونه وليکئ چې د جمعې حاصل يې ۹ شي په داسې حال کې چې اجزاوې يې تکرار نشي.

۳- تول هغه عددونه وليکئ چې د جمعې حاصل يې ۱۲ وي او مساوي اجزاوي ولري.

کورنی دنده

جمع يې کړئ:

۷۰۰۲
۱۸۷۰
۹۴۰۲
+ ۸

۳۵
۷۴۳
۳۷۱
+ ۱۰۰




(c) ketabton.com: The Digital Library

**پوښتني:**

۱- یوه بنوال د ۳٦۲۰۰ افغانیو منې د ۱۲۰۰۰ افغانیو ناك او د ٦۱۰۰ افغانیو شفتالو وپلورل معلوم کړئ چې نوموړی بڼوال ټولې څو افغانۍ په لاس راوړي دي؟

۲- یوه هټۍ وال په لومړی ورځ د ۱۲۰۰ افغانیو په دوهمه ورځ د ۱۲۰ افغانیو په دریمه ورځ د۱۸۰۰ افغانیو او په څلورمه ورځ د ۲۰۲۰۰ افغانیو اجناس پلورلي دي معلوم کړئ چې هټۍوال په څلورو ورځو کې ټولې څو افغانۍ په لاس راوړي دي؟

۳- لاندې پوښتنې خپلو کتابچو ته نقل او تش ځایونه یې په مناسبو عددونو سره ډك کړئ.



**کورنی دنده**

د توکر اوبدلو یوې فابریکې په لومړۍ ورځ ۴۳۰ متره توکر، په دوهمه ورځ ۷۴۰ متره توکر او په دریمه ورځ ۱۰۲۰ متره توکر تولید کړی دی معلوم یې کړئ چې په درې واړه ورځو کې یې ټوله څو متره توکر او بدلی دی.




(c) ketabton.com: The Digital Library

# اتم لوست: د جمعې د عمليې ازمويل

هدف: زده کوونکي وکړای شي د جمعې د عمليې په صحيح والي باندې خپل ځان ډاډ من کړي.








شاکر، فهيم ته وويل: کولای شې چې د ۳۲۲ عدد د ۱۰۷۶ له عدد سره جمع کړې؟
فهيم وويل هو، داسې يې جمع کوم:

| | |
|---|---|
| | ۳۲۲ |
| + | ۱۰۷۶ |
| | ۱۳۹۸ |

شاکر وويل: څرنګه پوهيږې چې پوښتنه دې صحيح حل کړې ده او که غلطه؟

فهيم وويل: ددې کار د پاره د جمعې د اجزاوو ځايونه بدلوو او د جمعې عمليه سرته رسوو.

| | |
|---|---|
| | ۱۰۷۶ |
| + | ۳۲۲ |
| | ۱۳۹۸ |

څرنګه چې په دواړو حالتونو کې عينې عدد لاس ته راغلی نو ځواب صحيح دی.

**کورنی دنده**

لاندې پوښتنې لومړی په کتابچو کې جمع او بيا يې وآزموئ.

| | |
|---|---|
| | ۲۳۴۵ |
| + | ۱۰۲۳ |
| | |

| | |
|---|---|
| | ۱۰۸۶۰ |
| + | ۲۸۰۱۵ |
| | |

| | |
|---|---|
| | ۲۹۷۶۴ |
| + | ۵۰۲۳۵ |
| | |



(c) ketabton.com: The Digital Library

مشق او تمرین

۱. لاندې عددونه لومړی جمع او بیا یې امتحان کړئ؟

| | | |
|---|---|---|
| ۳۷۶۴ | ۷۶۵۰ | ۱۷۸۹۱ |
| + ۱۵۳۲۱ | + ۶۳۴۲۵ | + ۷۱۸۶۴ |

۲. د ۷۲۰۵ او ۶۰۱۰ عددونه یو له بله سره جمع او امتحان کړئ؟

۳. د ۹۹۹۹ لـه عـدد څخـه دوه مخکنـي او دوه وروسـتي عددونه یو له بله سره جمع او امتحان کړئ.

۴. په یوه بڼ کې ۸۰۰۰۰ د مڼو نیالګیو شتوالی درلـود ۱۶۷۴۵ نیالګی یې نور کینول اوس په بڼ کې څو نیالګي شته. په دوه ډوله یې ځواب په لاس راوړئ.

کورنی دنده

لاندې پوښتنې لومړی په خپلو کتابچو کې حل او بیایې وآزمویئ.

| | |
|---|---|
| ۱۶۴۲ | ۷۰۰۴۲ |
| + ۸۶۰۷ | + ۲۰۸۰۰ |



(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورم فصل
## تفریق

**نهم لوست: له یو بل څخه د دوه رقمي، درې رقمي او څلور رقمي عددونو تفریق**

هدف: زده کوونکي په دوه رقمي، درې رقمي او څلور رقمي عددونو کې تفریق سرته ورسوي.

**پاملرنه وکړئ:**

احمد ۹۴ افغانۍ لري په ۴۲ افغانیو یې قلم او کتابچه راونیول اوس د احمد سره څو افغانۍ پاتې دي؟

۹۴-۴۲=۵۲

یا :

| | |
|---|---|
| ۹۴ | مفروق منه |
| ۴۲ – | مفروق |
| ۵۲ | د تفریق حاصل |

کریم ۱۳۸ کریته منې لري. که چیرې د هغو څخه ۲۸ کریته منې خرڅې کړي څو کرېته منې د هغه سره پاتې دي؟

| |
|---|
| ۱۳۸ |
| ۲۸ – |
| ۱۱۰ |

یوه هټۍ وال ۳۹۸۰ متره توکر درلود که چېرې یې له هغو څخه ۷۸۰ متره توکر پلورلی وي څو متره توکر نور ورسره پاتې دی؟

| |
|---|
| ۳۹۸۰ |
| ۷۸۰ – |
| ۳۲۰۰ |

کورنۍ دنده

هر یو زده کوونکی دې یوه عبارتي پوښتنه ترتیب او حل کړي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مشق او تمرین**

۱- د اووه اویا زره د عدد څخه د اووه زره عدد تفریق کړئ.

۲- لاندې پوښتنې حل کړئ.

| | | |
|---|---|---|
| ۱۹۹۹۹ | ۶۸۹۲۷ | ۶۷۴۲ |
| _ ۶۹۹۹ | _ ۵۶۷۰۶ | _ ۱۰۳۰ |

۳- په لاندې پوښتنو باندې د تفریق عملیې په خپلو کتابچو کې سرته ورسوئ.

| | | |
|---|---|---|
| ۱۹۹۵۲ | ۱۹۹۵۲ | ۱۷۳۱۰ |
| _ ۲۶۴۲ | _ ۱۷۳۱۰ | _ ۲۶۴۲ |

**کورنۍ دنده**

لاندې پوښتنې په خپلو کتابچو کې تفریق کړئ.

| | | |
|---|---|---|
| ۱۸۹۷۹ | ۱۸۹۷۹ | ۱۷۱۳۲ |
| _ ۱۷۱۳۲ | _ ۱۸۴۷ | _ ۱۸۴۷ |

## لسم لوست: د تفریق د عملیې سرته رسول د پور اخیستلو د اړتیا په صورت کې

**هدف**: که چیرې د مفروق منه د کومې مرتبې رقم د مفروق د هم هغې مرتبې څخه کوچنی وي زده کوونکې د وروستي رقم څخه په پور اخیستلو سره د تفریق عملیه سرته ورسولای شي.

ګرانو زده کوونکو څرنګه چې د عددونو په جمع کولو کې مو یو لسی د یویزو له مرتبې څخه ولسیزو ته او یو سلی د لسیزو له مرتبې څخه د سلیزو مرتبې ته انتقال کړل، د عددونو په تفریق کې کولای شئ د لسیزو له مرتبې څخه یو لسی د یویزو مرتبې ته او یا د سلیزو له مرتبې څخه لسیزو ته او یا د زریزو له مرتبې څخه د سلیزو مرتبې ته انتقال کړئ او د تفریق د عملیې په حل کې له هغه څخه کار واخلئ.

۱ مثال:

(۲) (۱۴) (۱۲)

۳ ۵ ۲

۱ ۷ ۵ −

۱ ۷ ۷

لاندې پوښتنې حل کړئ.

۷ ۳ ۵ ۸

۶ ۳ ۵ ۹ −

۳ ۰ ۰ ۰ ۶

۱ ۱ ۲ ۴ ۸ −



(c) ketabton.com: The Digital Library

**د جمعې او تفريق تمرينونه:**

۱- د کړۍ یا چوکاټ په د ننه کې دوه عددونه یو له بله سره جمع کړئ

| | |
|---|---|
| ۶۰۷ او ۵۸۳ | ۸۴۰ او ۷۰۳ |
| ۲۵۶۴ او ۸۴ | ۱۰۴ او ۱۱۱ |
| ۳۷۲ او ۶۴۱ | ۱۰۰ او ۲۱۳ |

۲- د کړۍ یا چو کاټ په د ننه کې دوه عددونه په نظر کې ونیسئ د لوی عدد څخه کوچنی عدد تفریق کړئ.

| | |
|---|---|
| ۱۰۰۰ او ۹۷۸ | ۴۸۱ او ۱۷۳۲ |
| ۱۹۲ او ۶۴۰ | ۳۲۵ او ۷۸۶ |
| ۱۷۶ او ۸۷ | ۳۰۰۵ او ۱۰۹ |

۳- ۱۸۰ تنو چې سرې او شنې جامې یې آغوستې دي، د ځغاستې په یوې لوبې کې یې ګډون وکړ که چیرې ۹۲ تنو یې سرې جامې آغوستې وي څو تنو یې شنې جامې آغوستې دي؟

۴- په یوه لومړني ښوونځي کې ۴۸۲ زده کوونکي دي که چیرې ۱۷۴ یې نجونې وي د هلکانو شمیر معلوم کړئ؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

۵- په یوه الوتکه کې ۳۵۰ تنه مسافر دي ۲۳۰ تنه یې په یوه هوائي ډګر کې کوز شول او ۱۲۰ تنه نور نوموړي الوتکې ته وختل. اوس د مسافرینو شمیر څو تنه دي؟

۶- په یوه کارتن کې ۱۰۰ دانه ییز دوه قطیه قلمونه و. که چیرې ۶۸ داني قلمونه زده کوونکو ته ویشل شوي وي نور څو داني قلمونه پاتې دي؟

۷- که چیرې د دریم (الف) ټولګي په حاضرۍ کې ۳۷ زده کوونکي او د دریم (ب) په ټولګی کې ۴۳ زده کوونکي شامل وي ، په داسې حال کې چې په دواړو ټولګیو کې ۱۰ تنه غیر حاضر دي، نو په دواړو ټولګیو کې د حاضر زده‌کوونکو شمیر معلوم کړئ؟

۸- د چرګانو په دوو فارمونو کې ۶۰۰ چرګان شته دي. که چیرې د هغه په یوه فارم کې ۲۷۹ چرګان وي د بل فارم د چرګانو شمیر معلوم کړئ.

۹- که چیرې د چرګانو په یوه فارم کې ۲۰۵ چرګې او په بل کې ۳۱۱ چرګې وي. په دواړو فارمونو کې د جوړو چرګو شمیر معلوم کړئ په داسې حال کې چې د هغو د ناروغو چرګو شمیر ۲۱ وي؟

کورنی دنده

د تفریق یوه عبارتي پوښتنه ولیکئ او حل یې کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۰- لاندې پوښتنه حل کړئ!

```
  ۱۴۲۱
+  ۲۱۸
------
```

۱۱- احمد یو خوراك، محمود دوه خوراکه او سلیم درې خوراکه کباب وخوړل او د هوټل خاوند ته یې ۵۰۰ افغانۍ ورکړلې که چیرې د یو خوراك کباب قیمت ۵۰ افغانۍ وي معلوم کړئ چې هوټلي بیرته څو افغانۍ باید ورکړي؟

۱۲- کریم ۹۸۰ افغانۍ درلودې خپلو دریو زامنو هر یو ته یې ۹۹ افغانۍ د ښوونځي د اړتیا شیانو لپاره ورکړې، معلوم کړئ چې د کریم سره څو افغانۍ پاتې دي؟

۱۳- د ?= ۶۴ - ۱۲۵ د تفریق عملیه په نظر کې ونیسئ هغه حل کړئ! بیا داسې عبارت ورته ولیکئ چې د عملیې مفهوم وښیي.

کورنۍ دنده

لاندې پوښتنې دې زده کوونکي په خپلو کتابچو کې ولیکي.

۱-
```
   ۱۰۹
   ۶۱۳
+   ۷۸
------
```

۲-
```
  ۴۰۳۹
  ۷۰۴۷
+   ۲۰
------
```

۳-
```
  ۸۱۱۰
-  ۶۱۸
------
```

۴-
```
  ۴۰۱۷
+    ۰
------
```

۵-
```
  ۱۲۱۴
- ۱۲۱۴
------
```



(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۴- د (۷۸۶۴۲) او (۱۹۸۷۶) عددونو څخه کوم يو يې لوی او کوم يې کوچنی دی؟ له لوی عدد څخه کوچنی عدد تفريق کړئ!

۱۵- د >، = او < نښې په څه نامه سره ياديږي، د پوښتنو تش ځايونه په مناسبو نښو سره ډك کړئ!

| | | |
|---|---|---|
| ۷٦۴۲ | ☐ | ۲۳۴۵۱ |
| ۴۳۲۱٦+۳۰۴ | ☐ | ۴۳۵۲۰ |
| ۴۳۵۲۰-۳۰۴ | ☐ | ۴۳۲۱٦ |
| ۸۷۹۸٦ | ☐ | ۷۸۴۳۰ |

کورنۍ دنده

لاندې پوښتنې حل کړئ!

```
  ۷۶۴۲۱        ۱۸۰۴۲
- ۶۷۸۴۰      -  ۸۷۲۴
  -----        -----
  [   ]        [   ]

  ۱۰۰۰۰۰       ۱۰۰۷۶
-  ۹۲۴۶۸     -  ۹۳۲۷
  -----        -----
  [   ]        [   ]
```



(c) ketabton.com: The Digital Library

# يوولسم لوست: د تفريق د عمليي ازموينه

هدف: زده كوونكي پوه شي چي د تفريق پوښتنه يې په صحيح توګه حل كړې ده او كه نه؟

د دې لپاره چې پوه شو د تفريق پوښتنه مو په صحيح او سمه توګه حل کړې ده او که نه؟ هغه په لاندې توګه آزمويو:

**مثال**

| | |
|---|---|
| مفروق منه | ۸۳۴ |
| مفروق − | ۴۲۲ |
| د تفريق حاصل | ۴۱۲ |

**آزموينه**

| | |
|---|---|
| د تفريق حاصل | ۴۱۲ |
| مفروق + | ۴۲۲ |
| مفروق منه | ۸۳۴ |

د تفريق د عمليې د آزموينې لپاره لومړی د تفريق حاصل له مفروق سره جمع کوو که چيرې مفروق منه لاس ته راشي پوښتنه صحيح ده او له هغه پرته غلطه ده.



**پوښتنې:**

۱- د حل شوي مثال په توګه لاندې پوښتنې په خپلو کتابچو کې حل او وآزمويئ!

۸۴۴۷ آزموينه:

_۶۲۴۵

۷۶۲۹ آزموينه:

_۴۵۵۲

**کورنۍ دنده**

هر زده کوونکی دې په خپله يوه پوښتنه وليکي او حل دې کړي بيا دې وآزمويي.






(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- لاندي پوښتني په خپلو کتابچو کې حل او امتحان کړئ.

الف: ۶۴۲۰ − ۱۸۴۰

ب: ۷۳۲۵ − ۱۹۷۶

ج: ۱۰۰۰۰۰ − ۹۹۹۹۹

۳- یوه بټوال ۱۰۸۰ نیالګي وپلورل، ۲۱۰ نیالګي له هغه سره پاتې شول. معلوم یې کړئ چې نوموړي بټوال ټول څو نیالګي درلودل؟

۴- یوه مال لرونکي ۱۲۰۰۰ میږې درلودې، نوموړي ۹۰۴ میږې وپلورلې معلوم یې کړئ چې څو میږې ورسره پاتې دي؟

۵- یوه توکر خرڅوونکي په څلورو ورځو کې د ۸۷۶۰۲ افغانیو توکر پلورلی دی. که چیرې په لومړۍ ورځ یې د ۱۰۸۰۰ افغانیو، په دویمه ورځ یې د ۱۶۰۷۰ افغانیو او په دریمه ورځ یې د ۳۸۰۰۰ افغانیو توکر پلورلی وي. د هغه د څلورمې ورځې پلورنه معلومه کړئ؟

٦- یو تن مامور په میاشت کې ۳۴۰۰ افغانۍ معاش اخلي که چیرې ۹۰۰ افغانۍ د اوړو او ۲۰۰۰ افغانۍ د کور کرایه ورکړي. څو افغانۍ له هغه سره پاتې کیږي؟

۷- یوه بزګر په یو کال کې ۵۰۰ منه غنم حاصل واخیست، ۲۰۰ منه یې د خپل خوراك لپاره وساتل، پاتې څومره غنم وپلوري تر څو خپلې نورې اړتیاوې بشپړې کړي؟

کورنی دنده

زده کوونکي دې د خپلې پوهې او ذوق سره سم د تفریق یوه عبارتي پوښتنه ترتیب کړي، بیا دې هغه حل او وآزمويي؟


# پنځم فصل: د عددونو خط

## دولسم لوست: د عددونو د خط پیژندنه

هدف: زده کوونکي د عددونو خط وپيژني او په ترتيب سره عددونه په هغه باندې وليکلای شي.

**په ټولګي کې د زده کوونکو فعاليت**

۱ـ د عددي کارتونو د شکلونو څخه په کار اخیستني سره د لاندې جدول تش ځایونه ډك کړئ!



| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ١ | | ٣ | | | ۶ | | | | ١٠ | | ١٢ | | | ١۵ | | | ١٨ | | |

۲ـ د پورته ډك شوي جدول څخه په کار اخستني سره د لاندې خط په هغو ټکو باندې چې عدد ليکل شوی نه دی په ترتيب سره په خپلو کتابچو کې د هغو اړوند عدد وليکئ.




الف: د پيل ټکی په صفر کې قرار لري.

ب: د صفر ټکی د عددي خط د پيل (مبدأ) په نامه يادېږي.

ج: دا ډول خط د عددونو د خط په نامه يادېږي.

د: د ۵، ۶، ۷، ۱، ۴، ۲، ۳ عددونه داسې ترتيب کوو.

١،٢،٣،۴،۵،۶،٧

## مشق او تمرین

۱- د عددونو یو خط په خپلو کتابچو کې رسم کړئ! د هغه په مخ باندې لس ټکي په مساوي فاصلو سره جلا کړئ په ترتیب سره عددونه له کینې لوري څخه ښي لوري ته ولیکئ!

۲- یو زده کوونکی دې د ټولګي مخې ته په قدم وهلو پیل وکړي او نور زده کوونکي دې د هغه قدمونه حساب کړي او د عددونو د خط په مخ باندې دې وښیي.

۳- د ۳، ۵، ۲، ۷، ۶او ۴ عددونه په ترتیب سره د عددي خط په مخ ولیکئ.


۴- د ۹، ۳، ۶، ۲، ۵، ۷، ۱۰، ۸، ۱ او ۴ عددونه په ترتیب سره د کوچنیو عددونو څخه د لویو عددونو خواته ولیکئ!

۵- د لاندې خط ټکي په نظر کې ونیسئ! عددونه په ترتیب سره د کینې لوري څخه ښي لوري ته ولیکئ!



### کورنی دنده

د عددونو خط په خپلو کتابچو کې رسم کړئ! د ۸، ۶، ۷، ۵، ۴، ۲، ۱ او ۳ عددونه په ترتیب سره د عددونو په خط باندې ولیکئ.





(c) ketabton.com: The Digital Library

# د یار لسم لوست: د دوو لسونو په شا او خواکې د عددونو پرتله

هدف: زده کوونکي لسونو ته نژدې عددونه یعنې(۱۰ ، ۲۰ ، ۳۰ ، ۴۰ ، .... ته نـژدی عددونـه) تشخیص کړای شي.

**مثال:** د ۲۲ عدد د عددونو په خط باندې په لاندې توګـه ښـودل شوی دی، د ۲۲ عدد کوم یوه لسونو ته نژدې دی؟یعنی۲۰ تـه او که ۳۰ ته نژدې دی؟



د خط په مخ باندې لیدل کیږي چې د ۲۲ عدد د ۲۰ او ۳۰ عـددونو په منځ کې قرار لري څرنګه چې ۲۲ لـه ۲۰ څخـه د ۲ واحـدونو پـه اندازه او د ۳۰ څخه د ۸ واحدونو په اندازه فاصله لري نو ۲۲ د ۲۰ عدد ته نژدې دی، نسبت د ۳۰ عـدد تـه نومـونږ ۲۲ پـه ۲۰ بانـدې حساب وو.

**پوښتنه:** آیا تاسو ۲۵ په ۲۰ او که په ۳۰ باندې شمېرئ یعنې کوم یـوه ته نژدې دی؟



**ځواب:** ۲۵ د ۲۰ او ۳۰ په منځ کې قرار لري. کله چې داسې پیښیږي مونږ هغه د لوی لس خواته شمېرو یعني د ۳۰ عدد ته نژدې شمېرو.




۱- هغه عددونه چې د ۱۰ او ۲۰ په منځ کې قرار لري کوم یـې ۱۰ تـه او کوم یې ۲۰ ته شمېرل کیږي؟ جلا جلا یې ولیکئ!

۲- هغه عددونه چې د ۳۰ او ۴۰ په منځ کې قرار لري کوم عددونه چې ۴۰ ته شمېرل کیږي (نژدې دی)؟ ویې لیکئ!

**کورنی دنده**

د ۹۳ ، ۹۸ ، ۹۷ ، ۹۵ او ۹۱ په عددونو کې کـوم یـو یـې چـې ۹۰ او یـا ۱۰۰ تـه شمېرل کیږي جلا، جلا یې ولیکئ.




(c) ketabton.com: The Digital Library

**مشق او تمرین**

۱- لاندې عدد ډېر نژدې لس ته د حل شوي مثال په توګه وشميرئ او تش ځايونه ډك كړئ!

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ٦١ | ٦٠ | ٦٧ | | ٦٥ | |
| ٦٩ | | ٦٣ | | ٦٦ | |




۲- لاندې د عددونو خط په نظر كې ونيسئ در كړل شوي عددونه ډېر نژدې لسونو ته وشميرئ او تش ځايونه ډك كړئ.




| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۴۴ | | ۴۸ | | ۴٦ | |
| ۴۵ | | ۴۲ | | ۴۴ | |

۳- هغه عددونه چې ۷۰ ته شميرل كيږي يعنې نژدې دي په خپلو كتابچو كې په ترتيب سره وليكئ!

--- --- ---

--- --- ---

۴- څو عددونه ۵۰ ته شمير لاى شئ يعنى ۵۰ ته نژدې دي؟

**كورنى دنده**

د ۷۹ ، ۷۵ او ۷۶ عددونه كوم يوه لس ته شميرل كيږي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library


(c) ketabton.com: The Digital Library

## څوارلسم لوست: د عددي خط څخه په کار اخيستني سره د جمعې عمليه

هدف : زده کوونکي وکړای شي د جمعې عمليه په عددي خط باندې سرته ورسوي.

**مثال:** د ۱۳=۵+۸ د جمعې عمليه په عددي خط باندې داسې سرته رسوو.

لومړی د لاندې عددي خط په مخ باندې د ۸ عدد په نښه کوو، وروسته له هغه د په نښه شوي نقطې څخه د ۵ واحدونو په اندازه ښي خواته حرکت کوو. ليدل کيږي چې د ۱۳ عدد ته رسيږو دا عدد د ۸ او ۵ د عددونو د جمعې حاصل ښيي.





۸+۵=۱۳




**پوښتنې:**

د لاندې شکلونو له مخې د رياضي افاده يې وليکئ او د جمعې عمليه سرته ورسوئ!




__ + __ = __




__ + __ = __

**کورنی دنده**

لاندې عمليې د عددي خط په مخ باندې سرته ورسوئ.

۷ = ۳+۴ ۳+۶ =۹


۱۰= ۴ + ۶ ۸+۷ =۱۵

# پنځلسم لوست: د عددي خط څخه په کار اخیستني سره د تفریق عملیه

هدف: زده کوونکي وکړای شي په عددي خط باندې د تفریق عملیه سرته ورسوي.

**لومړی مثال:** غواړو د عددي خط په مخ باندې د ۱۱ له عدد څخه د ۶ عدد تفریق کړو. د عددي خط په مخ باندې د صفر له نقطې څخه د ۱۱ واحدو په اندازه ښي خواته حرکت کوو. وروسته د هم هغه عددي خط په مخ باندې د ۱۱ له عدد څخه کیڼې خواته د ۶ واحدو په اندازه شاته ګرځو او حرکت کوو. لیدل کیږي داسې نقطې ته رسیږو، چې د ۵ عدد راښیي. د شکل له مخې معلومیږي چې د ۵ د رقم او د حرکت د لومړنۍ نقطې تر منځ واټن ۵ واحده دی. او په ریاضي کې د هغه عملیه داسې لیکو.

$11 - 6 = 5$




**دوهم مثال:** د صفر له نقطې څخه ښي خواته ۱۲ واحده حرکت کوو تر څو د ۱۲ نقطې ته ورسیږو. وروسته له هغه د ۱۲ د نقطې څخه د ۸ واحدو په اندازه کیڼې خواته ګرځو لیدل کیږي چې د ۴ نقطې ته رسیږو د هغه عملیه داسې لیکو.

$12 - 8 = 4$

د عددي خط څخه په کار اخستني سره د تفریق لاندې عملیې سرته ورسوئ.




$12 - 8 = 4$



**پوښتنې:**



□ − □ = □



□ − □ = □



(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ - د تفریق لاندې عملیې سرته ورسوئ او د عـددي خـط پـه مـخ بانـدې وښیاست؟



۱۶-۷ =?



۱۴-۸=?




۸-۳=?



۷-۴=?

۲- په عـددي خط باندې د مثال سره سم د لاندې عـددونو د جمعـې او تفریق عـملیې وښیاست؟



مثال: ۴+٦=۱۰

۱۰-۴=٦

الف: ٦ +۵ = ?

۱۱-٦ =?

ب: ۱۵ - ۵ =?

۱۰ + ۵ =?

کورنۍ دنده

که چېرې ستا سو د ښوونځي د وره او د تـولګي د وره تـر منځ واټن ۵۰ متره وي د تولګي او ښوونځي تر منځ واټن پیدا کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپږم فصل
# ضرب

## شپاړلسم لوست: د ضرب دعملیې د مفهوم پیژندنه

هدف: زده کوونکي د ضرب عملیه په داسي حال کې چې د جمعي اجزاوې مساوي وي د جمعي کولو د ډېرې لنډې طریقې په مفهوم وپیژني.

**په ټولګي کې د زده کوونکو فعالیت**

لاندې شکلونه په نظر کې ونیسئ او په شفاهي توګه ورته ځواب ووایاست:

۱- په څو ښاخونو باندې دوه، دوه مرغۍ ناستې دي؟ ټولې څو کیږي؟




۲- څو ګلدانۍ وینئ؟ په هره ګلدانۍ کې څو ګلان دي؟ ټول څو ګلان کیږي؟



---

لومړی مثال:



څو قابه دي؟ په هر قاب کې څو ناکونه دي؟ د ټولو ناکونو شمېر څو کیږي؟

۲+۲+۲+۲=۸

په پورته عملیه کې د ۲ رقم ۴ واري لیدل کیږي په دې معنا چې: ۴ واري ۲ د ۸ سره مساوي کیږي او د ضرب په شکل یې داسې لیکو. ۸=۴ × ۲ داسې لوستل کیږي، ۲ضرب په ۴ کې مساوي له ۸ سره کیږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲ مثال:**




**شپږ ستوري په څو گروپونو کې وینئ ټول څو ستوري کیږي؟**

۶+۶+۶+۶=۲۴


**هغه د ضرب په شکل داسې لیکو:** ۶×۴=۲۴

**مشق او تمرین**

**۱- د لاندې شکلونو د جمعې او ضرب افادې ولیکئ!**



**۲- د چاپیریال د موادو په واسطه د ۳×۴ افاده د جمعې په شکل وښیاست!**



**کورنی دنده**

**لاندې شکلونه په نظر کې ونیسئ د هغو د جمعې او ضرب افادې په خپلو کتابچو کې ولیکئ او حل یې کړئ!**

___ + ___ + ___ + ___ + ___ + ___ = ___

___ × ___ = ___



(c) ketabton.com: The Digital Library




۱- د لاندې عددونو مجموعه د ضرب په شکل سره ولیکئ او حل یې کړئ.

۵+۵+۵+۵+۵+۵+۵+۵

___ = ___ × ___

۲- د لاندې عددونو د ضرب حاصل د حل شوي مثال په ډول کار وکړئ!

**مثال** : تاسو په دویم ټولګي کې د دوه رقمي او یو رقمي عددونو ضرب ولوستل اوس د لاندې پوهیدو د پاره د ٦٣ × ۵ د ضرب حاصل له نظره تیره وو. په دې پوښتنه کې لومړی ۵ د یویزو له رقم یعنی ۳ سره ضرب کوو چې ۱۵ کیږي د ۵ رقم د ضرب حاصل د یویزو په مرتبه کې لیکو د لسیزو مرتبه یې چې له ۱ لس څخه عبارت دي د لسیزو په سر یې یاد داشت کوو. لکه:

$$\begin{array}{r} \overset{1}{6}3 \\ \times\ 5 \\ \hline 5 \end{array}$$

اوس ۵ د لسیزو په مرتبه یعنی ۶ کې ضرب کوو چې د ضرب حاصل یې ۳۰ کیږي او د حاصل سره یې چې یاد داشت شوی دی جمع کوو او په حاصل ضرب کې یې لیکو.

$$\begin{array}{r} \overset{1}{6}3 \\ \times\ 5 \\ \hline 315 \end{array}$$

لاندې عددونه یو له بل سره ضرب کړئ!

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۵ × ۸ = ☐ | ۴۱ × ۸ = ☐ | ۲۵ × ۷ = ☐ | ۴۴ × ٦ = ☐ |
| ۲۵ × ۹ = ☐ | ۳۰ × ٦ = ☐ | ۵۳ × ۷ = ☐ | ۲۲ × ٦ = ☐ |



(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- تش ځايونه د ژبنی ضرب او د ضرب د معلوم جز څخه په کار اخستني سره په مناسبو عددونو سره ډك كړئ.

| | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | × | ۴ | = | ۱٦ | | | × | ۳ | = | ۲۷ | | | × | ۲ | = | ۱۸ |
| ۵ | × | | = | ۳۵ | | ۴ | × | | = | ۲۴ | | ۳ | × | | = | ۲۴ |

۲- د كيڼ لوري د جدول له بشپړ كولو وروسته د لوبيا، وړو ډبرو، لرګوټو او يا د چاپيريال د نورو توكو څخه په كار اخستني سره د ښي لوري د جدول تش ځايونه په مناسبو عددونو سره ډك كړئ!

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۵ | × | ۵ | = | ۲۵ |
| ٦ | × | ۵ | = | |
| ۷ | × | ۵ | = | |
| ۸ | × | ۵ | = | |
| ۹ | × | ۵ | = | |
| ۱۰ | × | ۵ | = | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۵ | × | ۵ | = | ۲۵ |
| ۵ | × | ٦ | = | |
| ۵ | × | ۷ | = | |
| ۵ | × | ۸ | = | |
| ۵ | × | ۹ | = | |
| ۵ | × | ۱۰ | = | |

۳- د لوبيا، وړو ډبرو او يا د چاپيريال د نورو توكو څخه په كار اخيستني سره د لاندې جدول تش ځايونه په مناسبو عددونو سره ډك كړئ!

| × | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ٦ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | | | | | | | | | | |
| ۲ | | | | | | | | | | |
| ۳ | | | | | | | | | | |
| ۴ | | | | | | | | | | |
| ۵ | | | | | | | | | | |



(c) ketabton.com: The Digital Library

# اووه لسم لوست: د ۶ او ۷ د ژبنی ضرب جدول پیژندنه

هدف: زده کوونکي د ۶ او ۷ ژبنی ضرب مشق او تمرین وکړي او کار ور څخه و اخیستلي شي.

**پاملرنه وکړئ!**

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | × | ۷ | = | ۷ |
| ۲ | × | ۷ | = | ۱۴ |
| ۳ | × | ۷ | = | ۲۱ |
| ۴ | × | ۷ | = | ۲۸ |
| ۵ | × | ۷ | = | ۳۵ |
| ۶ | × | ۷ | = | ۴۲ |
| ۷ | × | ۷ | = | ۴۹ |
| ۸ | × | ۷ | = | ۵۶ |
| ۹ | × | ۷ | = | ۶۳ |
| ۱۰ | × | ۷ | = | ۷۰ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | × | ۶ | = | ۶ |
| ۲ | × | ۶ | = | ۱۲ |
| ۳ | × | ۶ | = | ۱۸ |
| ۴ | × | ۶ | = | ۲۴ |
| ۵ | × | ۶ | = | ۳۰ |
| ۶ | × | ۶ | = | ۳۶ |
| ۷ | × | ۶ | = | ۴۲ |
| ۸ | × | ۶ | = | ۴۸ |
| ۹ | × | ۶ | = | ۵۴ |
| ۱۰ | × | ۶ | = | ۶۰ |

**کورنی دنده**

زده کوونکي دې د پورتني جدول سره سم یو جدول په خپلو کتابچو کې رسم کړي بیا دې د ۷ او ۸ ژبنی ضرب په کې ولیکي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مشق او تمرین**

۱. دژبنی ضرب شخه په کار اخستني سره لاندي تش ځايونه په مناسبو عددونو سره ډك كړئ!

| | |
|---|---|
| ۴ × ۷ = ☐ | ۴ × ☐ = ۲۴ |
| ۷ × ☐ = ۴۹ | ☐ × ۶ = ۲۴ |
| ۶ × ☐ = ۳۶ | ☐ × ۷ = ۲۸ |
| ☐ × ۷ = ۴۹ | ۷ × ☐ = ۳۵ |
| ۷ × ☐ = ۵۶ | ۶ × ۵ = ☐ |
| ☐ × ۶ = ۵۴ | ☐ × ۶ = ۴۲ |
| ۹ × ۷ = ☐ | ۶ × ☐ = ۴۸ |
| ۶ × ☐ = ۵۴ | ☐ × ۷ = ۵۶ |
| ☐ × ۷ = ۶۳ | ۷ × ۶ = ☐ |
| ☐ × ۶ = ۴۸ | ☐ × ۵ = ۳۵ |

**کورنی دنده**

لاندي عددونه ضرب كړئ!

| | | |
|---|---|---|
| ۵ × ۸ = ☐ | ۴ × ۹ = ☐ | ۳ × ۷ = |
| ۸ × ۵ = ☐ | ۹ × ۴ = ☐ | ۷ × ۳ = |

۲. لاندې پوښتنې حل کړئ!

| | |
|---|---|
| ☐ = ۸ × ۳ | ☐ = ۷ × ۴ |
| ☐ = ۳ × ۸ | ☐ = ۴ × ۷ |
| ☐ = ۸ × ۴ | ☐ = ۷ × ۵ |
| ☐ = ۴ × ۸ | ☐ = ۵ × ۷ |
| ☐ = ۸ × ۵ | ☐ = ۷ × ٦ |
| ☐ = ۵ × ۸ | ☐ = ٦ × ۷ |

۳. لاندې پوښتنې د مثال سره سمې حل کړئ!

مثال:

$$\begin{array}{r} 24 \\ \times\ 7 \\ \hline 168 \end{array}$$

$$\begin{array}{r} 32 \\ \times\ 6 \\ \hline \square \end{array} \qquad \begin{array}{r} 64 \\ \times\ 7 \\ \hline \square \end{array}$$

$$\begin{array}{r} 46 \\ \times\ 6 \\ \hline \square \end{array} \qquad \begin{array}{r} 76 \\ \times\ 7 \\ \hline \square \end{array}$$

کورنۍ دنده

د ۶ او ۷ ژبني ضرب په یوه جدول کې په خپلو کتابچو کې ولیکئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# اتلسم لوست: د ۸، ۹ او ۱۰ عددونو د ژبنی ضرب جدول پیژندنه


هدف : زده کوونکی د ۸ ، ۹ او ۱۰ په ژبني ضرب باندې پوه شي او پـه ورځینـي ژونـد کې کار ورڅخه واخلي .

د ژبني ضرب لاندې جدول ته پاملرنه وکړئ.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ١ | × | ٨ | = | ٨ |
| ٢ | × | ٨ | = | ١٦ |
| ٣ | × | ٨ | = | ٢٤ |
| ٤ | × | ٨ | = | ٣٢ |
| ٥ | × | ٨ | = | ٤٠ |
| ٦ | × | ٨ | = | ٤٨ |
| ٧ | × | ٨ | = | ٥٦ |
| ٨ | × | ٨ | = | ٦٤ |
| ٩ | × | ٨ | = | ٧٢ |
| ١٠ | × | ٨ | = | ٨٠ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ١ | × | ٩ | = | ٩ |
| ٢ | × | ٩ | = | ١٨ |
| ٣ | × | ٩ | = | ٢٧ |
| ٤ | × | ٩ | = | ٣٦ |
| ٥ | × | ٩ | = | ٤٥ |
| ٦ | × | ٩ | = | ٥٤ |
| ٧ | × | ٩ | = | ٦٣ |
| ٨ | × | ٩ | = | ٧٢ |
| ٩ | × | ٩ | = | ٨١ |
| ١٠ | × | ٩ | = | ٩٠ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ١ | × | ١٠ | = | ١٠ |
| ٢ | × | ١٠ | = | ٢٠ |
| ٣ | × | ١٠ | = | ٣٠ |
| ٤ | × | ١٠ | = | ٤٠ |
| ٥ | × | ١٠ | = | ٥٠ |
| ٦ | × | ١٠ | = | ٦٠ |
| ٧ | × | ١٠ | = | ٧٠ |
| ٨ | × | ١٠ | = | ٨٠ |
| ٩ | × | ١٠ | = | ٩٠ |
| ١٠ | × | ١٠ | = | ١٠٠ |







زده کوونکی دې د ۸ او ۹ ژبنی ضرب د کاغذ په ټوټو باندې ولیکي او یاد دې کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

مشق او تمرين

۱- د ۸ ژبني ضرب څخه په كار اخستنې سره لاندې تش ځايونه ډك كړئ.

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۸۰ | | | ۵۶ | | | | ۲۴ | | ۸ |

۲- د ۹ او ۷ د ژبني ضرب په نظر كې نيولو سره لاندې تش ځايونه ډك كړئ.

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۹ | ۱۸ | | ۳۶ | | | | | ۸۱ | |
| ۷ | | ۲۱ | | | ۴۲ | | | ۶۳ | |

۳- په يوه بڼ كې ۸ هلكان د مڼو په ټولولو بوخت دي كه چيرې هر هلك ۷ دانې مڼې ټولې كړې وي معلوم كړئ چې ټولې يې څو مڼې ټولې كړې دي.

۴- د لاندې مثال سره سم څو پوښتنې در كړل شوې دي د عددي خط په مخ باندې و ښياست.

۲۴=۸×۳ يا ۲۴=۳×۸



الف: ۱۸=۹×۲ ۱۸=۲×۹

ب: ۲۴=۴×۶ ۲۴=۶×۴



(c) ketabton.com: The Digital Library

۵- لاندې پوښتنې د حل شوي مثال په ډول حل کړئ.

۱ مثال:

| | | |
|---|---|---|
| ۱۲۸ | ۴۷ | |
| × ۹ | × ۸ | |
| ۱۱۵۲ | ۳۷۶ | |

| | | |
|---|---|---|
| ۳۸ | ۲۴ | ۱۱۴ |
| × ۸ | × ۹ | × ۷ |
| ☐ | ☐ | ☐ |

| | | |
|---|---|---|
| ۲۸۹ | ۹۸ | ۱۷۸ |
| × ۸ | × ۷ | × ۹ |
| ☐ | ☐ | ☐ |

۶- د لاندې تساوي صحیح والی د حل شوي مثال په ډول معلوم کړئ!

مثال:

(۸×۱)×۷ = (۸×۷)×۱

۸ ×۷ = ۵۶ × ۱

(۶×۱ )×۸ = ( ۶×۸ ) × ۱

( ۹×۰ ) × ۷ = (۹×۷ ) × ۰



(c) ketabton.com: The Digital Library

# نولسم لوست: د (۱ - ۱۰) د ژبني ضرب له جدول څخه د کار اخستلو طریقه

هدف: زده کوونکي د ژبني ضرب جدول وپیژني او له هغه څخه کار واخستلای شي.

د لاندې ژبني ضرب جدول ته پاملرنه وکړئ:

| × | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ |
| ۲ | ۲ | ۴ | ۶ | ۸ | ۱۰ | ۱۲ | ۱۴ | ۱۶ | ۱۸ | ۲۰ |
| ۳ | ۳ | ۶ | ۹ | ۱۲ | ۱۵ | ۱۸ | ۲۱ | ۲۴ | ۲۷ | ۳۰ |
| ۴ | ۴ | ۸ | ۱۲ | ۱۶ | ۲۰ | ۲۴ | ۲۸ | ۳۲ | ۳۶ | ۴۰ |
| ۵ | ۵ | ۱۰ | ۱۵ | ۲۰ | ۲۵ | ۳۰ | ۳۵ | ۴۰ | ۴۵ | ۵۰ |
| ۶ | ۶ | ۱۲ | ۱۸ | ۲۴ | ۳۰ | ۳۶ | ۴۲ | ۴۸ | ۵۴ | ۶۰ |
| ۷ | ۷ | ۱۴ | ۲۱ | ۲۸ | ۳۵ | ۴۲ | ۴۹ | ۵۶ | ۶۳ | ۷۰ |
| ۸ | ۸ | ۱۶ | ۲۴ | ۳۲ | ۴۰ | ۴۸ | ۵۶ | ۶۴ | ۷۲ | ۸۰ |
| ۹ | ۹ | ۱۸ | ۲۷ | ۳۶ | ۴۵ | ۵۴ | ۶۳ | ۷۲ | ۸۱ | ۹۰ |
| ۱۰ | ۱۰ | ۲۰ | ۳۰ | ۴۰ | ۵۰ | ۶۰ | ۷۰ | ۸۰ | ۹۰ | ۱۰۰ |


د جدول نه د کار اخیستنې طریقه:

د ۵ × ۴ د ضرب د پیدا کولو له پاره د ښي لاس یوې ګوتې ته د لومړی لیك د ۴ له عدد څخه کښته خواته حرکت ورکړئ او د کیڼ لاس یوې ګوتې د لومړی ستنې (ستون) د ۵ له عدد څخه ښي خواته حرکت ورکړئ په نتیجه کې دواړه ګوتې په یوه عدد باندې سره یو ځای کیږي کله چې عدد ولولئ لیدل کیږي چې د ۲۰ عدد دی چې د ۵× ۴ د افادې د ضرب حاصل دی یعنې: ۲۰ = ۵ × ۴



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پوښتنې:

۱- ځوابونه په خپلو کتابچو کې په تش ځایونو کې ولیکئ.

| | |
|---|---|
| □ = ۱ × ۱۰ | □ = ٦ × ۵ |
| □ = ۸ × ٦ | □ = ۸ × ۷ |
| □ = ۸ × ۴ | □ = ٦ × ۹ |

۲- لاندې عددونه یو له بله سره ضرب کړئ او ځوابونه یې د ژبنې ضرب په جدول کې پیدا کړئ.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۷ | ۸ | ۹ | ۵ | ٦ | ۴ |
| × ٦ | × ۸ | × ٦ | × ۷ | × ۸ | × ۵ |
| □ | □ | □ | □ | □ | □ |

۳- په متناوب ډول، اته، اته وشمیرئ او تش ځایونه ډک کړئ.

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۸ | □ | □ | ۳۲ | □ | □ | ۵٦ | □ | ۷۲ | □ |

۴- د ژبنې ضرب څخه په کار اخستنې سره لاندې تش ځایونه په مناسبو عددونو سره ډک کړئ.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| □ | ۹ | ۹ | □ | □ |
| × ٦ | × □ | × ٦ | × ۹ | × ۰ |
| ۰ | ۴۵ | | ۷۲ | ۰ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۷ | ٦ | ۸ | ۸ |
| × □ | × □ | × □ | × □ |
| ۰ | ۵۴ | ۸ | ۰ |

۵- په ۸، ٦ او ۴ عددونو کې ډېر لوی عدد له ډېر کوچني عدد سره ضرب کړئ او د ضرب حاصل یې پیدا کړئ.

---

٦- لطیفې ۹ قطی تباشیر راونیول که چیرې په هرې قطی کې ۸ قلمه تباشیر وي معلوم یې کړئ چې لطیفې څو قلمونه تباشیر رانیولي دي؟

---

۷- د ژبنی ضرب د جدول په مرسته لاندې جدول ډک کړئ.

| × | ۸ | ۷ | ۹ | ۵ | ٦ |
|---|---|---|---|---|---|
| ۸ | | | | | |
| ۷ | | | | | |
| ۹ | | | | | |

کورنی دنده

زده کوونکي دې لاندې پوښتني حل کړي.

۲۴ × ۴ =
۱۴ × ۷ =
۱۵ × ۸ =
۱٦ × ۵ =
۲۲ × ۹ =



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شلم لوست: د ضرب په عملیه کې د بدلون (تبدیلي) خاصیت

هدف: زده کوونکي پوه شي که چېرې د ضرب په عملیه کې د ضرب د اجزاو ځایونه سره بدل شي دضرب حاصل بدلون نه مومي.

لومړی مثال: تاسو پوهېږئ چې: ۶+۶+۶+۶+۶=۳۰

یا:

د ضرب حاصل، د ضرب دویم جز، د ضرب لومړی جز

۳۰ = ۵ × ۶

اوس غواړو چې د ۵ عدد ۶ واري جمع کړو.

۵+۵+۵+۵+۵+۵=۳۰

یا:

د ضرب حاصل، د ضرب دویم جز، د ضرب لومړی جز

۳۰ = ۶ × ۵

د دوو پورتنیو افادو له پرتله کولو څخه نتیجه اخستل کیږي چې د ضرب د اجزاو د ځایونو په بدلون سره د ضرب حاصل بدلون نه کوي. یعني:

۶×۵=۵×۶=۳۰

**پوښتنې:**

۱- د ۵۶= ☐ ×۷ افاده په نظر کې ونیسئ.

الف: د ضرب کوم جز نا معلوم دی؟ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ

ب: د ۷ عدد د ضرب کوم جز دی؟ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ

ج: د ۵۶ عدد په څه نامه یادیږي؟ ـ ـ ـ ـ ـ ـ

د: نامعلوم جز یا تش ځای په یوه مناسب عدد سره ډک کړئ.

- - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - -

۲- د ۵۶=۷× ☐ په افاده کې.

الف: د ضرب کوم جز نامعلوم دی؟ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ

ب: نامعلوم جز یا تش ځای په یوه مناسب عدد سره ډک کړئ.

ج: د (۱) او (۲) پوښتنو افادې یو له بله سره پرتله کړئ وواياست چې څه توپیر لري؟

د: کوم مفهوم چې د (۱) او (۲) پوښتنو له پرتله کولو څخه لاس ته راغلی په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

---

۳- د حل شوي مثال په ډول تش ځایونه په مناسبو عددونو سره ډک کړئ.

مثال:

۴۲ = ۷ × ۶ = ۶ × ۷

۵۴ = ۶ × ___ = ___ × ۶

___ = ۷ × ___ = ۸ × ۷

د کین لوري له ضرب څخه په کار اخستنې سره د ښي لوري ضرب بشپړ کړئ.

۴۲ = ___ × ۷ ⟷ ___ = ۷ × ۶

۶۳ = ۹ × ___ ⟷ ___ = ۷ × ۹

___ = ___ × ۸ ⟷ ___ = ۸ × ۳

۲۴ = ۶ × ___ ⟷ ___ = ۴ × ۶

___ = ___ × ۳ ⟷ ۲۱ = ۳ × ۷

---

۴- په لاندې پوښتنو کې تش ځایونه ډک کړئ.

الف: ___ × ۴ = ۴

ب: ۶ × ___ = ۰

ت: ۷ × ___ = ۷

---

۵- لاندې جدولونه بشپړ کړئ.

| × | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۰ | | | ۳۰ | | | ۶۰ | | | ۹۰ | |

| × | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۷ | ۷ | | | ۲۸ | | | ۴۹ | | | |

| × | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۸ | | ۱۶ | | | ۴۰ | | ۵۶ | | ۷۲ | |

کورنی دنده

په لاندې تشو ځایونو کې داسې عددونه ولیکئ چې د ضرب حاصل بدلون ونکړي.

___ = ۷ × ۴ = ۴ × ___


___ = ۸ × ___ = ۴ × ۸



(c) ketabton.com: The Digital Library

# يو ويشتم لوست: د يوه عدد ضربول په ۱ ، ۱۰ او ۱۰۰ کې

هدف: ۱- زده کوونکي د يوه عدد ضربول په ۱ ، ۱۰ او ۱۰۰ کې د يوې آسانې طريقې په توګه وپېژني.
۲- زده کوونکي پوه شي ګه چيرې د (۱) عدد په هر عدد کې يا هر عدد د يوه په عدد کې ضرب شي د ضرب حاصل يې په خپله هم هغه عدد دی.




په لنډ ډول داسې ليکل کيږي.

۱×۵ = ۵

کولای شو چې د ضرب عمليه په لاندې ډول هم وښيو.



په پورته شکل کې ۵ دانې منې يو وارې وينو نو د ضرب عمليه يې داسې ليکو.

۵×۱=۵

له پورته دوو عمليو څخه دا نتيجه لاس ته راځي که چيرې (۱) په هر عدد کې او يا هر عدد په (۱) کې ضرب شي د ضرب حاصل يې په خپله هم هغه عدد دی ، نو ليکلی شو چې:

۱ × ۸ = ۸

۸ × ۱ = ۸

۴ × ۱ = ۴

۱ × ۴ = ۴

۶۴ × ۱ = ۶۴

۱ × ۱۶۴ = ۱۶۴



(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ټولګي کې د زده کوونکو فعالیت

په تشو ځایونو کې د مثال په ډول مناسب عدد ولیکئ!

**مثال :** ۱×۵=۵

| | | |
|---|---|---|
| ۱ × ۱ = □ | ۱ × ۷۱ = □ | ۱ × ۱۸۲ = □ |
| □ × ۱ = ۱۲۷۸ | □ × ۲۵۴ = ۲۵۴ | □ × ۴۲۰ = ۴۲۰ |
| ۲۷۸۱ × ۱ = □ | ۱۹۴ × ۱ = □ | ۳۰۷ × □ = ۳۰۷ |
| ۱ × □ = ۲۷۶۴ | ۷۰۰۲ × ۱ = □ | ۴۰۰۵ × □ = ۴۰۰۵ |
| ۶۰۱ × ۱ = □ | ۷۶۴۰ × □ = ۷۶۴۰ | □ × ۲۶۵ = ۲۶۵ |

کورنۍ دنده

زده کوونکي د لاندې عددونو د ضرب حاصل په لاس راوړئ!


۱×۷۴۰=?  ۱۸۴×۱=?  ٦١×۱=?



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ۱۰ ضربول په یوه عدد کې:

۱۰+۱۰+۱۰+۱۰+۱۰=۵۰




تاسو پوهیږئ چې:

۱۰ پنځه واري جمع شوی دئ.

۱۰×۵ =۵۰

مثال : ۱۰+۱۰+۱۰+۱۰+۱۰+۱۰+۱۰=۷۰



۱۰ اووه واري جمع شوی دئ.

۱۰×۷=۷۰

له پورته شکلونو او عملیو څخه معلومیږي که چیرې ۱۰ په هر عـدد کـې ضرب شي او یا هر عدد په ۱۰ کې ضرب شي، لومړی یو په هم هغه عـدد کې ضربوو بیا د ضرب د حاصل ښي خواته یو صفر لیکو یا په لنډه توګـه د هم هغه عدد ښي خواته یو صفر ږدو او د ضرب د حاصل په ځـای کـې یې لیکو.

لکه:

| | | |
|---|---|---|
| ۱۰×۷۶۸= | ۱۰×۱۳۴= | ۱۰×۹= |
| ۲۳۵۶×۱۰= | ۷۲۱×۱۰= | ۸×۱۰= |

**کورنۍ دنده**

د (۱) د عدد ضربول په یوه رقمي عددونو کې او د (۱۰) ضـربول پـه یـوه رقمي عـددونو کې په نظر کې ونیسئ! د لانـدې جـدول تـش ځایونـه ډك کړئ! نتیجه یې ولیکئ! چې یو د بله سره څه توپیر لري.

| × | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | | | ۳ | | ۵ | | | ۸ | |
| ۱۰ | | | ۳۰ | | ۵۰ | | | ۸۰ | |



(c) ketabton.com: The Digital Library




**پوښتنې:**

په تشو ځايونوکې مناسب عدد وليکئ!

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | = | | + | | | | = | | + | |
| | = | | + | | | | = | | + | |
| | = | | + | | | | = | | + | |
| | = | | + | | | | = | | + | |


## د ۱۰۰ ضربول په يوه عدد کې:



۱۰۰ + ۱۰۰ = ۲۰۰

دوه ځلې ۱۰۰ ليدل کيږي.

۱۰۰ × ۲ = ۲۰۰



۱۰۰+۱۰۰+۱۰۰+۱۰۰+۱۰۰ = ۵۰۰

۱۰۰×۵=۵۰۰

د پورتنيو عمليو او شکلونو څخه نتيجه لاس ته را ځي که چېرې ۱۰۰ په يوه عدد کې يا يو عدد په ۱۰۰ کې ضرب شي کولی شو عدد د ضرب په حاصل کې وليکو او ښي خواته يې دوه صفرونه کښيږدو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

**پوښتنې:**

لاندې پوښتنې په خپلو کتابچو کې وليکئ! د حل شوي مثال په ډول يې حل او تش ځايونه يې ډک کړئ!

۱۰۰×۱۰=۱۰۰۰

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۱۰۰ | = | ۱۱ | × | |
| ۲۵۰۰ | = | | × | ۱۰۰ |
| ۲۰۰۰ | = | ۲۰ | × | |
| ۲۰۰۰ | = | ۱۰۰ | × | |

۱۰۰×۲=۲۰۰

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۴۰۰ | = | | × | ۱۰۰ |
| ۶۰۰ | = | ۶ | × | |
| ۹۰۰ | = | | × | ۱۰۰ |
| ۹۰۰ | = | | × | ۹ |

**کورنۍ دنده**

که چېرې په يوه کارتن کې ۱۰۰ پاکټه چاکلېټ وي معلوم يې کړئ چې په ۷ کارتنوکې څو پاکټه چاکلېټونه دي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ – لاندي عددونه يوله بله سره ضرب کړئ!

| | | |
|---|---|---|
| ۱۰۰ | ۱۰ | ۱۰۰ |
| × ۸۴ | × ۸۲ | × ۸٦ |
| ۱۰۰ | ۱۰۰ | ۱۰۰ |
| × ۷٦۰ | × ۸۹۰ | × ۲۴۰ |
| ۷۴۰ | ۱۰ | ٦۰۴ |
| × ۱۰۰ | × ٦۰۴ | × ۱۰ |

۲ – يوه هټۍوال ۱۰۰ متره ټوکر وپلورل که چيرې د هغه د يوه متر ټوکر بيه ۱۸ افغانۍ وي، معلوم کړئ چې څو افغانۍ يې په لاس راوړي دي.

۳ – که چېرې يوې کورنۍ په يوه مياشت کې د ۱۰۰ افغانيو بوره رانيولې وي معلوم کړئ چې نوموړې کورنۍ به، په ۱۲ مياشتو کې د څو افغانيو بوره را ونيسي؟

**کورنۍ دنده**

د ۷۰، ۸۴، ۹۳، ۹۰ او ۳۵ عددونه د (۱۰) او (۱۰۰) په عدد ونو کې ضرب کړئ او د ضرب حاصل يې يوله بله سره پر تله او نتيجې يې وليکئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# اووم فصل
# داندازه کولو واحدات

## دوه ویشتم لوست: د اوږدوالي د اندازه کولو واحد (متر)

هدف: زده کوونکي متر داوږدوالي د واحد په توګه وپيژني او له هغه څخه په ورځني ژوند کې کار واخستلی شي.

فهيمې خپلې خورته وليکل چې زه د کړکۍ يوې پردې ته اړتيا لرم مهرباني وکړه داسي يوه پرده راوليږه چې اوږدوالي يې ۱۰ لوېشتې او سور يې ۱۲ لوېشتې وي. د فهيمې خور ښارته ولاړه د خپلې خور له هدايت سره سم يې توکر راونيول پرده يې ور څخه و ګنډله او ور ويې ليږله. کله چې فهيمې پرده په کړکۍ باندې را وځړوله ډېره خواشينې شوه. د هغې د خواشينې توب په علت پوهيږئ څه دی؟
څرنګه چې لوېشتې يوله بله سره توپير لري او پردې يې د اړتيا سره سمې نه وې، لنډې شوې نو تاسو وواياست څه بايد وکړو.



څرنګه چې د نړۍ تول خلك د دغه ډول ستونزو سره مخامخ اولاس په ګرېوان وو، نو د نړۍ پوهانو او علماؤ د اوږدوالي واحد چې متر بلل کيږي ومنل چې نن د اوږدوالي له همدې واحدڅخه کار اخستل کيږي.







(c) ketabton.com: The Digital Library

**پوښتنې:**

۱- خپل د ټولګي اوږدوالی او سور د هغه متر په واسطه اندازه کړئ چې تا سو په خپله جوړ کړئ دی؟

۲- ستاسو په ګروپ کې د کوم یوه غړي د تنې اوږدوالي له یوه متر څخه زیات دی؟

۳- ستاسو په ګروپ کې د کوم یوه غړي د تنې اوږدوالی له یوه متر څخه لږ دی؟

۴- ستاسو د ټولګي اوږدوالی د هغه له سور څخه څومره زیات دی؟

۵- ستاسو د میز اوږدوالی له یوه متر څخه زیات دی او که لږ؟

۶- ستاسو د میز سور له یوه متر څخه څولوېشتې لږ دی؟

۷- په پخوا وختونو کې چې خلکو متر نه پېژندل د څه ډول ستونزو سره مخامخ وو؟

**کورنی دنده**

هر یو زده کوونکی دې د خپلې حویلۍ د اوږده دیوال، وره، او د حویلۍ د سور د دیوال، اوږدوالي د هغه متر په واسطه اندازه کړي چې دوی په خپله جوړ کړی دی او په خپلو کتابچو کې دې ولیکي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## درویشتم لوست: د سانتي متر پېژندنه

هدف: زده‌کوونکی سانتي متر د متر د جزء (د یوه متر دسلمي برخې) په توګه وپیژني او په ورځني ژوند کې له هغه څخه کار واخلي.

تاسو به لیدلي وي چې تږکر پلوروونکي د تږکرد رانیولو او پلورلو له پاره دیوي فلزي تږتې څخه کار اخلي تر کاڼان، معماران او مهندسان د شیانو د اوږد والي د اندازه کولو له پاره د متر له فیتو څخه کار اخلي ښاغلی ښووونکی دي د تولګي د لیك دړي په مخ باندي دیوه متر په اندازه یو خط رسم کړي او د زده‌کوونکو پام دي ورته را وګرځوي. بیادي زده‌کوونکو ته دنده ورکړي هغه متر چې له لرګي، لښتې یا تار څخه یې جوړکړی دی.

څرنګه ورڅخه کار اخلي؟ تر څو د تولګي او میز اوږدوالی او سور اندازه کړي په ځینو حالاتو کې به ووینئ چې د میز اوږدوالی او سور له متر څخه زیات یا لږ دی. په دې صورت کې اړتیا پیداکیږي چې د اوږدوالي کوچنی واحد هم وپیژنو نو که چېرې یو متر په سلو مساوي برخو جلا کړو هري برخې ته یې یو سانتي متر وایي. تاسو کولی شئ سانتي متر د خپل خط کش په لیدو سره وپیژنئ. د لښتې، کاغذ او د لرګوتو څخه دیوه سانتي متر په اندازه جلاء کړئ، د کاغذ د پاڼي په مخ باندي د یوه سانتي متر په اندازه یې رسم کړی.

۱ متر = ۱۰۰ سانتي متره








(c) ketabton.com: The Digital Library




۱- ستاسو خط کش څو سانتي متره دی؟




۲- ۱۰۰ سانتي متره څو متره کیږي؟


۳- د خپل کتاب اوږدوالی او سور اندازه کړئ؟



۴- که چېري ستاسو د مېز اوږدوالی له یوه متر څخه زیات او له دو و مترو څخه لږ وي د اندازه کولو د کوم واحد څخه کار اخلئ؟



۵- د ا ب ، ب ج ، او ا ج د توته خطونو اوږدوالی اندازه کړئ و لیکئ چې هر یو څو سانتي متره دی؟







زده کوونکي دې د ۵ سانتیمترو، ۱۰ سانتیمترو او ۲۰ سانتیمترو په اندازه توته خطونه رسم کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلور و یشتم لوست: د د یسي متر پېژندنه

**هدف:** زده کوونکي وکولی شي د یسي متر د متر د جزء په توګه وپیژنی او د اړتیا په وخت کې کار ور څخه واخلي.

**په ټولګي کې د زده کوونکو فعالیت**

هغه خط کش چې تا سو یې له خپل ځان سره لرئ کار ور څخه واخلئ او لاندې فعالیتونه سرته ورسوئ.

١- ستاسو خط کش څو سانتیمتره دی؟
٢- د ١٠ سانتیمترو په اندازه یو توټه خط رسم کړئ.
٣- د یوې لښتې یاد کاغذ له ترېشې څخه د ١٠ سانتیمترو په اندازه جلاء کړئ.
٤- د جلاء شوې لښتې یا د کاغذ د ترېشې په واسطه یو متر واټن اندازه کړئ.
٥- و وایاست ستاسو د جلاء شوې برخې څو لښتې یو متر کیږي؟

هغو زده کوونکو چې په دقیقه توګه یې کار سرته رسولی دی ښایې ووایې چې ١٠ لښتې یا ١٠ ترېشې یو متر کیږي هغه دې تشویق شي او پوښتنې دې ور څخه وشي.

په تاسو کې څوک ویلی شي چې دغه د ١٠ سانتیمتر ولښته په بل څه نامه یادیږي؟

باید وپوهیږئ چې دا د ١٠ سانتیمتر و واټن یو دیسي متر بلل کیږي.

نو ویلی شو:

١٠ دیسي متره = یو متر　　　　١٠ سانتي متره = ١ دیسي متر

**پوښتنې:**

١- ۴ متره څو دیسي متره کیږي؟
٢- د کریم د تنې اوږدوالی ١٣٠ سانتي متره دی د کریم دتنې اوږدوالی په دیسي متر سره معلوم کړئ؟
٣- و وایاست چې ١٢٥ سانتي متره څو دیسي متره او څو سانتي متره کیږي؟

**کورنی دنده**

د یوه دیسي متر جلا شوې لښتې څخه کار واخلئ د خپل کور د یوه وره سور اندازه کړئ و یې لیکئ چې څو دیسي متره او څو سانتي متره کیږي؟




(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځه و یشتم لوست: د ملی متر پیژندنه

**هدف:** زده کوونکي کولی شي ملی متر و پیژني او د اوږدوالي د اندازه کولو د کوچني واحد په توګه ور څخه کار واخلي.

**په ټولګي کي د زده کوونکو فعالیت**

لاندې شکل ته پاملرنه وکړئ.



دا شکل د یوه سانتیمتر واټن (فاصله) رانښيي چې په لسو مساوي برخو ویشل شوئ دی.

هرې برخې ته یې یو ملي متر وایي په دې صورت کې.

۱۰ ملي متره = ۱ سانتي متر کيږي


۱- مثال: ۲ سانتي متره څو ملي متره کيږي ؟

حل: پوهيږو چې یو سانتي متر مساوي له لسو ملي مترو سره دئ نو ۲ سانتي متره مساوي کيږي له.

۲۰ ملي متره = ۱۰ ملي متره + ۱۰ ملي متره

یا ۲۰ ملي متره = ۲×۱۰ ملي متره

۲- مثال: غواړو چې د لاندې توته خط اوږدوالی د خط کش په واسطه اندازه کړو.




د خط کش صفر د (ا) له ټکي سره سمږدو لیدل کيږي چې د هغه د (ب) ټکی د ۵ سانتیمترو څخه ۵ ملي متره زیات دی نو وایو چې ددې توته خط اوږدوالی ۵ سانتیمتره او ۵ ملي متره دئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

**پوښتني:**

د حل شوي مثال څخه په کار اخستنې سره لاندې پوښتنې په خپلو کتابچو کې حل کړئ.

۱. ۴ سانتي متره څو ملي متره کیږي؟

۲. ٦ سانتي متره څوملي متره کیږي؟

۳. د خپل خط کش څخه په کار اخستنې سره لاندې توټه خطونه اندازه کړئ وواياست چې هر يو د هغو څو سانتي متره او څو ملي متره کیږي؟



۴. د ۵ سانتي متر او ۵ ملي متر په اندازه يو توټه خط رسم کړئ؟

۵. يو توټه خط رسم کړئ چې له ۵ سانتي مترو څخه ۲ ملي متره لږ وي.

په عمومي توګه ليکلی شو چې:

۱۰۰ سانتي متره = ۱ متر

۱۰ ديسي متره = ۱ متر

۱۰۰۰ ملي متره = ۱ متر

۱۰ سانتي متره = ۱ ديسي متر

۱۰ ملي متره = ۱ سانتي متر

**کورنۍ دنده**

۳ سانتي متره څو ملي متره کیږي؟

۵ سانتي متره څو ملي متره کیږي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

## شپږ و یشتم لوست: د کیلو متر پیژندنه

**هدف:** زده کوونکي وکولی شي د متر څخه لوی واحد، کیلو متر وپیژني.

حامد له خپل پلار څخه پوښتنه وکړه. پلار جانه کوچني واټنونه مو د سانتي متر او متر په واسطه اندازه کړل، د دوو ښارونو تر منځ واټن په څه شي سره اندازه کوي؟ پلار يې ځواب ورکړ زويه، لوی واټنونه لکه د ښارونو او هيوادونو تر منځ د کيلو متر په واسطه اندازه کوي.

حامد پوښتنه وکړه کيلو متر څه شی دی؟ پلار يې ځواب ورکړ يو زر (۱۰۰۰) متر واټن ته يو کيلو متر وايي يعنې.

۱۰۰۰ متره = ۱ کیلومتر

مثال: که چيرې د دوو ښارونو ترمنځ واټن ٦ کيلو متره وي نوموړی واټن په متر سره حساب کړئ.


٦۰۰۰ متره = ۱۰۰۰ متر + ۱۰۰۰ متر + ۱۰۰۰ متر + ۱۰۰۰ متر+ ۱۰۰۰متر+۱۰۰۰متر

له پورتني مثال څخه سربېره پردې چې د متر او کيلو متر ترمنځ په اړيکو باندې پوه شو، په دې هم پوه شو که چيرې يو عدد په ۱۰۰۰ کې ضرب شي نو د هم هغه عدد ښي خواته درې صفرونه ږدو او په حاصل ضرب کې ليکو.




۱. ۴ کيلو متره له څو مترو سره مساوي کيږي؟
۲. ۷ کيلو متره له څو مترو سره مساوي کيږي؟
۳. ۲۴ کيلو متره څو متره کيږي؟
۴. د کابل او هرات ترمنځ واټن ۱۰۹۳ کيلومتره دی، که چيرې د کابل او قندهار ترمنځ واټن ۵۰۵ کيلومتره وي، د قندهار او هرات ترمنځ واټن معلوم کړئ.








(c) ketabton.com: The Digital Library


# اتم فصل
# هندسه

## اوه و يشتم لوست: په شكلونو كې د ټكی (نقطې) تړ‌ه خط، نيمايي خط او خط پيژندنه

**هدف:** زده كوونكی ټكی (نقط) تو‌ړه خط، نيمايي خط (شعاع) او خط و پيژني او يو له بله سره توپير وكړای شي.


**په ټولگي كې د زده كوونكو فعاليت**

تا سو لاندې هندسي شكلونو او نومونو ته پاملرنه وكړئ. او له هر يوه سره چې بلدتيا لرئ نوم يې واخلئ او رسم يې كړئ.




پورتني شكلونه په نظر كې ونيسئ او لاندې پوښتنوته ځواب ووایاست:

۱- دا (.) ننبه چې د پنسل د څوكې په واسطه د كاغذ د پاڼي په مخ اينبودل شوې ده څه نوميږي؟


۲- دا (  ) شكل د څه په نامه يا ديږي؟

۳- كه چيرې د خپل پنسل څوكه په كاغذ باندې كښيږدو او په مستقيم ډول حركت وركړو څه شی لاس ته راځي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- په لاندې هر یو شکل کې څو ټوټې خطونه شتوالی لري؟



۵- که چیرې د (ا ب) ټوټه خط ته د ښي او کیڼې خواته امتداد ورکړو کوم هندسي شکل لاس ته راځي.



۶- که چیرې د (ا ب) له ټکي څخه یو مستقیم خط ښی خواته و کېښل شي ادامه ورکړل شي کوم شکل حاصلیږي هغه رسم کړئ.


۷- د کاغذ په مخ باندې له یوه ټکي څخه یو خط رسم کړئ. او دکاغذ په یوه بله برخه کې پاي ته ورسوئ. د پیل او پای ټکو باندې نو مونه کښیږدئ وواياست چې دا خط د څه په نامه یادیږي.







زده کوونکي دې لاندې شکلونه په خپلو کتابچو کې رسم کړي او دهغو نو مونه دې ولیکي.






(c) ketabton.com: The Digital Library

## پوښتنې:

۱- له دې شکلونو څخه کوم یو یې مستقیم خط، کوم یو یې نیمايي خط (شعاع) او کوم یو یې توته خط دی؟





د (۱) ګڼې پوښتنې شکلونه په نظر کې ونیسئ. د شکلونو له مخې لاندې پوښتنو ته ځواب ووایاست:

الف: یو مستقیم خط او یوه شعاع یو له بله څخه توپیر لري؟

ب: یوه شعاع او یو توته خط یو له بله څه توپیر لري؟

ج: یو توته خط او یو مستقیم خط یو له بله څه توپیر لري؟


۲- په لاندې شکل کې څو مستقیم خطونه، څو شعاع ګانې او څو توته خطونه دي.







په لاندې شکل کې څو توتې خطونه لیدلی شئ؟ د دوو ټکو په واسطه یې ولیکئ.






(c) ketabton.com: The Digital Library

# اته ویشتم لوست: د خط د ډولو نو پېژند نه

هدف: زده کوونکي مستقیم خط، منکسر خط، او منحني خط وپېژني او هم یو له بله توپیر وکړی شي.


**په ټولګي کې د زده کوونکو فعالیت**

د چو کاټ د ننه شکلونو او نومونو ته نظر وکړئ.




پورتني شکلونه په نظر کې ونیسئ:

الف: له لاندې شکلونو څخه کوم یو یې منکسر خط دی او کوم یې منکسر خط نه دی؟



ب: ستاسو د مېز یوه څنډه یا د کتاب یوه څنډه مستقیم تو ته خط دی او که مستقیم خط؟



ج: دا دوه شکلونه د ا●——●ب او ⟵——⟶ یو له بله څه توپیر لري؟




(c) ketabton.com: The Digital Library

د: که چیرې یو تار د خپل دواړو لاسونو په واسطه ښه کش کړئ کوم خط ښيي؟ که چیرې کش یې نکړئ او خپل لاسونه سره نږدې کړئ کوم خط ښيي؟

هـ: په خپل ځان کې او یا په خپل ټولګي کې د ځوشیانو نومونه واخلئ چې دمنکسر خط او منحني خط شکلونه ولري.



و: لاندې شکلونه په نظر کې ونیسئ د هر یو شکل د خط نوم په خپلو کتابچو کې ولیکئ.







د خپل ژوند په چاپیریال کې د هغو شیانو او شکلونو نومونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ چې د منکسر، منحني او مستقیم خطو نو شکل ولري.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# نه ویشتم لوست: د زاویو د ډولونو پیژندنه

**هدف:** زده کوونکي و کړای شي قایمه زاویه له کاغذ څخه جوړه کړي، زده کوونکي د خپلې جوړې کړې قایمې زاویې په کارولو سره حاده زاویه او منفرجه زاویه و پیژني.

**په ټولګي کې د زده کوونکو فعالیت**

ګرانو زده‌کوونکو تاسو له پخوا د لاندې شکلونو سره پیژند ګلوي لرئ.




اوس غواړو چې قایمه زاویه په عملي توګه له کاغذ څخه جوړه کړو او له هغې څخه په کار اخیستنې سره نورې زاویې یې و پیژنو.

ګرانو زده‌کوونکو! تاسو هر یو یوه ټوټه کاغذ په لاس کې ونیسئ.

الف: هغه قات کړئ.

ب: قات شوی کاغذ بیا یو په بل باندې داسې قات کړئ چې د قات شوي کاغذ څنډې یو په بل باندې منطبق راشي.


ج: قات شوی کاغذ ګوټ (کنج) یوه قایمه زاویه جوړوي.

د: قات شوی ګوټ (کنج) د کاغذ په مخ باندې کښېږدئ او زاویه رسم کړئ.

هـ: خپله رسم کړې زاویې ته پاملرنه وکړئ وواياست چې د لاندې کومې یوې زاویې سره برابره ده؟ او وواياست له کومې یوې زاویې څخه لویه او له کومې یوې زاویې څخه کوچنۍ ده؟



(c) ketabton.com: The Digital Library




په لاندې شکلونو کې به ووينئ چې ستاسو جوړه کړې زاويه د قايمې زاويې سره برابره ده. او حاده زاويه له هغې څخه کوچنۍ او منفرجه زاويه له هغې څخه لويه ده.

کورنۍ دنده


زده کوونکي دې د کاغذ له يوې ټوټې څخه قايمه زاويه جوړه کړي او ټولګي ته دې راوړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library


پوښتنې:

۱- د خپلې جوړې کړې زاويې په کارولو سره لاندې شکلونه په خپلو کتابچو کې رسم او هغه زاويې پر تله کړئ وواياست. هر يو شکل څو زاويې لري او هم د هر شکل نوم وليکئ.



د پرتله کولو وروسته به تاسو ووينئ چې مربع د څلورو قايمو زاويو لرونکې او مستطيل هم څلور قايمې زاويې لري او هم وواياست چې د هغو تر منځ توپير څه شی دی؟


۲- د خپلې جوړې کړې زاويې څخه کار واخلئ، د حاده، قايمه او منفرجه زاويې په لاندې شکلونو کې وښياست.






(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- د خپلې قایمې جوړې کړې زاویې څخه په کار اخستنې سره دلاندې شکلونو زاویې اندازه کړئ او ووایاست چې په هر شکل کې څو قایمې زاویې لیدل کیږي او هم دهغو حاده او منفرجه زاویې وښیاست.




۴- په لاندې شکلونو کې څو حاده زاویې څو منفرجه زاویې او څو قایمه زاویې لیدل کیږي.




۵- ووایاست ګنډونکي، معماران، ترکاڼان، فلزکاران، د کالیو پریکولو کور جوړولو، د ورونو چوکاټونو، میز او نور د اړتیاو سامان له پاره د یوې آلې څخه چې د (کج) په نامه یادیږي کار اخلي؟ د هغې ګوټ (کنج) د کومې زاویې سره برابره ده؟




د خپل تولګي او کور اسبابونو ته ښه ځیر شئ، د حاده، قایمه او منفرجه زاویې چې په نظر مو راځي ولیکئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# نهم فصل





## خلاص او تړلي شکلونه

### دېرشم لوست: د خلاص او تړلو شکلونو پيژندنه


هدف: زده کوونکي وکړای شي خلاص او تړلې شکلونه يو له بله سره توپير او تشخيص کړي.

**په ټولګي کې د زده کوونکو فعاليت**


**پاملرنه وکړئ:**

دا  يو خلاص شکل دی او دا  يو تړلی شکل دی. دا  يوه خلاصه منحني او دا  يوه تړلې منحني ده.

١- په لاندې شکلونو کې د هغو کوم يو شکل خلاص او کوم يو يې تړلی دی؟



٢- په لاندې منحني ګانو کې کومه يوه يې خلاصه او کومه يوه يې تړلې ده؟



کورنۍ دنده

په خپله خوښه يو خلاص شکل او يو تړلی شکل رسم کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library


۳- الف: آیا مثلث یو خلاص شکل دی او که تړلی؟

ب: آیا مربع یو خلاص شکل دی او که تړلی؟

ج: آیا مستطیل یو خلاص شکل دی او که تړلی؟

هـ : آیا دایره یوه خلاصه منحني ده او که تړلې؟

۴- د لاندې شکلونو څخه کوم یو یې تړلي او کوم یو یې خلاص دي؟



۵- کوم خلاص او تړلي شکلونه چې په خپل ټولګي کې وینئ وښیاست.

۶- د دریو ټوټه خطونو، څلورو ټوټه خطونو، په واسطه خلاص او تړلي شکلونه رسم کړئ.




(c) ketabton.com: The Digital Library

# یو دیرشم لوست: تخمیني او دقیق اندازه کول

هدف: د زده کوونکو حدس په اندازه کولو کې وده کوي او حقیقت ته نژدې کیږي.

لومړی د لاندې هر یوه توته خط اندازه تخمین کړئ او بیا د هر یوه اوږدوالی دخط کش په واسطه اندازه کړئ او په غور سره وګورئ چې ستاسو تخمین واقعیت ته تر کومه حده نږدې دی.

د درکړل شوو توته خطونو د تخمین او دقیق اندازه کولو وروسته مخامخ جدول بشپړ کړئ.




| توته خطونه | تخمیني اندازه | دقیق اندازه |
|---|---|---|
| ب الف | | |
| د ج | | |
| ن م | | |
| هـ و | | |
| ك ل | | |
| ز ر | | |

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د پورتنیو توته خطونو اوږدوالی په نظر کې ونیسي. له اوږده توته خط څخه دې د لنډ توته خط خواته ترتیب او ولیکي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

### مشق او تمرین

لاندې جدول ته پاملرنه وکړئ هر ګروپ دې د لاندې جدول په ډول يو جدول رسم کړي، د ګروپونو د يوه، يوه زده کوونکي تنه او اندامونه دې د مثال په توګه لـومړی تخمين او وروسته دې په دقيقه توګه اندازه کړي.

| د هر ګروپ د زده کوونکو نومونه | د تنې اندازه | | د ملا اندازه | | د سر د شاوخوا اندازه | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | تخمينی | دقيق | تخميني | دقيق | تخميني | دقيق |
| | | | | | | |
| | | | | | | |
| | | | | | | |
| | | | | | | |
| | | | | | | |
| | | | | | | |
| | | | | | | |

هـر ګـروپ دې د اړونـد جـدول د بشپړولو وروسـته پـه خپلـه د ګروپ زده کوونکي پرتله کړي چې د کوم يوه زده کوونکي تخمين حقيقت تـه ډيـر نـژدی دی. او هغـه دې يادداشـت کـړي او بيـا دې لومړی تن د هر ګروپ سره پرتله شي په ګروپونو کې دې لـومړی، دويم او دريم معلوم کړي او ممتاز زده کوونکي دې پيدا کړي.

### کورنی دنده

هرزده کـوونکی دې د ښـوونځي او کـور تـرمنځ واټـن پـه پښو ووهي لومړی دې د عادي قـدمونو د شـمير پـه واسـطه تخمـين کړي او ودې ليکي بيا دې قدم کړي او پرتله دې کړي چـې تخمـين يې تر کومې اندازې پـورې حقيقـت تـه نـژدې دی، پـه وروسـتي لوست کې دې نورو زده کوونکو ته ووايې.




(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوه دېرشم لوست: د مربع، مستطيل او مثلث د محيط (چاپيريال) پيدا کول

**هدف:** زده کوونکي محيط د تولو خوا و (چاپيريال) مفهوم وپېژني، د مربع، مثلث او مستطيل محيط اندازه کړئ شي.

**لاندې شکل ته پاملرنه وکړئ:**




پورته شکل يو ترلی شکل دی که چيرې د (۱) له تکي څخه وخوځيږو او د هغه په تولو ضلعو باندې په ترتيب سره ولاړ شو او بيا د (۱) تکي ته راورسيږو په حقيقت کې د مستطيل تولې خواوې مو وهلې دي چې دا د شا او خوا (چاپيريال) واټن د مستطيل محيط بلل کيږي.

څرنګه چې د مستطيل مخامخ ضلعې يو له بله سره مساوي دي. نو د نوموړي مستطيل د ضلعو مجموعه ۱۲ سانتي متر=۲+۴+۲+۴ کيږي.


په دې صورت کې د راکړل شوي مستطيل محيط ۱۲ سانتي متره دی. څرنګه چې مربع هم ۴ مساوي ضلعې لري نو د مربع د څلورو واړو ضلعو مجموعه د هغې محيط بلل کيږي او همدارنګه د مثلث د درې واړو ضلعو مجموعه د هغه د محيط څخه عبارت ده.



(c) ketabton.com: The Digital Library

**پوښتنې:**

۱- په لاندې مستطیل کې د دوو ضلعو اوږدوالی درکړل شوی دی، د دوو نورو ضلعو اوږدوالی اندازه کړئ او محیط یې په لاس راوړئ.




۲- که چیرې د یوې مربع هره ضلعه ۱۲ سانتي متره وي د نوموړې مربع محیط پیدا کړئ.

۳- که چیرې د یوه تولګي اوږدوالی ۸ متره او سور یې ۴ متره وي محیط یې پیدا کړئ.

۴- د یوې مربع محیط چې د هرې ضلعې اوږدوالی یې ۴ سانتي متره دی د هغه مستطیل له محیط سره یې پرتله کړئ چې اوږدوالی یې ۶ سانتي متره او سور یې ۲ سانتي متره وي؟

۵- که چیرې د یوه مستطیل شکلي بڼ اوږدوالی ۳۵۰ متره او سور یې ۲۳۰ متره وي څو متره اغزن سیم ته اړتیا ده تر څو د بڼ شا او خوا (چاپیر یال) وتړي.

۶- د هغه فرش محیط پیدا کړئ داسې یوه کوټه چې اوږدوالی یې ۴ متره او سور یې ۳ متره وي فرش کړئ او په کار یووړل شي؟

۷- د خط کش او خپل قایمې جوړې کړې زاویې په کارولو سره یوه مربع رسم کړئ چې د هرې ضلعې اوږدوالی یې ۵ سانتي متره وي.


**کورنۍ دنده**

د کاغذ له یوې پاڼې څخه یو مستطیل پرېکړئ چې اوږدوالي یې ۷ سانتي متره او سور یې ۳ سانتي متره وي.




(c) ketabton.com: The Digital Library

۸- په لاندې شکل کې څو مستطیلونه او څو مثلثونه دي د هرې ضلعې اوږدوالی اندازه کړئ محیطونه یې معلوم کړئ.



۹- په لاندې شکل کې د (ز) او (ح) ټکی او همدارنګه د (هـ) او (و) ټکی یو له بل سره ونښلوئ.




الف: څو مستطیلونه او څو مربع ګانې لیدلای شئ؟

ب : د هرې یوې مربع محیط معلوم کړئ؟

ج : د هر یوه مستطیل محیط معلوم کړئ.




که چیرې د یوه مثلث اضلاع وې په ترتیب سره ۳،۷ او ۵ سانتي متره وي محیط یې پیدا کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library


# لسم فصل

# د کتلې، وخت او مایعاتو اندازه کول


## دري دیرشم لوست: د کتلې د اندازه کولو واحد (کیلوګرام)

**هدف:** زده کوونکي د کتلې د اندازه کولو بین المللی واحد وپیژني او په ورځني ژوند کې ورڅخه کار واخستلی شي.

د تلې شکل ته چې د هغې په پلو کې مڼې او د کیلوګرام وزنونه ایښودل شوي دي پاملرنه وکړئ.



**کیلوګرام:** د دې له پاره چې د کتلې لرونکو شیانو د پلورلو او رانیولو تاکل په ځیر سره وشي. له هغو وزنونو څخه کار اخیستل کیږي. چې د تولو د پاره پیژندل شوي دي. چې د دې ډېر نامتو وزن ۱ کیلو ګرام دی. چې په مخامخ شکلونو کې یې ښه لیدلی شئ.




د ۱ کیلو ګرام څخه لوی وزنونه یعنې ۲ کیلوګرامه، ۵ کیلوګرامه، ۱۰ کیلوګرامه او ۲۰ کیلوګرامه دي هم د کار اخېستلو وړ دي او کار ورڅخه اخلي. د ډېرو کوچنیو شیانو داندازه کولو د پاره د کوچنیو وزنونو څخه چې هغه هم پیژندل شوي دي کار اخېستل کیږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

لاندې شکلونو ته پاملرنه وکړئ. ډېر درانه او ډېر سپك وزنونه په ترتيب سره په خپلو کتابچو کې وليکئ.





زده کوونکي: ښاغلی ښوونکی! گرام څه شی دی؟

ښوونکی: ۱ گرام په تقريبي ډول د ۱۰ عدسو (نسکو) په اندازه دی.

زده کوونکی: ښاغلی ښوونکی! نو ۱ کيلو گرام څو گرامه دی؟

ښوونکی: گرانو زده‌کوونکو! بايد پوه شئ چې ۱ کيلو گرام مساوي له ۱۰۰۰ گرامه سره کيږي.







د گروپونو هر يو زده کوونکی دې د پورتنيو وزنونو په ډول، دوه، دوه وزنونه د ختو څخه جوړ او سباته دې ټولگي ته راوړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

**مشق او تمرين**

۱- که چېري د ۱ کيلو ګرام وزن ونه لرئ څرنګه کولی شئ د نورو وزنونو په کارولو سره يو کيلو ګرام منېږ اندازه کړئ؟

۲- د >، = او < نښو څخه کار واخلئ تش ځايونه په مناسبو نښو سره ډك کړئ؟

| | | |
|---|---|---|
| ۵ کيلو ګرامه | ☐ | ۵۰۰۰ ګرامه |
| ۵۰۰۰ ګرامه | ☐ | ۱۰۰ ګرامه+ ۲۰۰ ګرامه+۴۰۰ ګرامه |
| يو ۵۰ ګرامه او دري ۲۰ ګرامه | ☐ | ۱۰۰ ګرامه |
| ۵۰۰ ګرامه | ☐ | نيم کيلو ګرام |
| ۵۰۰ ګرامه | ☐ | دوه ، ۲۰۰ ګرامه ، يوه ۵۰ ګرامه او درې ۱۰ ګرامه |
| ۷ کيلو ګرامه کچالو | ☐ | ۷۰۰۰ ګرامه يوه بوجی پنبه |

۳- يو هټی وال د تلې په يوه پله کې د ۵ کيلو ګرامو يو وزن او په بله کې يې يوه دانه هندوانه کېښودله ويې ليدل چې هندوانه سپکه ده. نو کله چې د تلې په بله پله کې يې د ۱ کيلو ګرام وزن کېښود تلې د تعادل حالت ونيو وواياست چې د هندوانې درونداوالی څومره دی؟



**کورنی دنده**

زده کوونکی دې د قوطيانو د نارنج، کدو له پلو، يا نورو شيانو څخه تله جوړه کړي او توټلګي ته دې راوړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library




**زده کوونکی:** ښاغلی ښوونکی! ډېر درانده شیان د څه شي په واسطه اندازه کوي؟

**ښوونکی:** ګرانو زده‌کوونکو ډېر زیات درانده شیان لکه بار لرونکي موټرونه او نور د ټن په واسطه اندازه کوي.

**زده کوونکی:** ښاغلی ښوونکی! ټن څه شی دی؟

**ښوونکی:** یو کیلو ګرام مو وپېژنده باید پوه شئ چې ۱۰۰۰ کیلو ګرامه یو ټن کیږي.

۱۰۰۰ کیلو ګرامه = ۱ ټُن

۲۰۰۰ کیلو ګرامه = ۱۰۰۰×۲ = ۲ ټُن

**کورنی دنده**

که چیرې یو موټر د بار سره ۱۲۰ ټن وزن ولري او د موټر وزن ۲۰ ټنه وي د موټر د بار وزن پیدا کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library


## د ساعت (گړۍ) پېژندنه

**هدف:** ۱- زده کوونکی د گړۍ له مودل څخه د گړیو د پېژندلو له پاره کار واخلي.
۲- زده کوونکي ساعت (گړۍ) د وخت د واحد په توگه وپېژني، زده کوونکي د گړۍ او دقیقه ښودونکي ترمنځ په اړیکو باندې پوه شي.



**د ساعت لوستل:**

گرانو زده‌کوونکو! که چیرې کوم وخت مو ساعت لیدلی وي د ساعت مخ یا ابره په ۱۲ مساوي برخو ویشل شوی ده چې ددوو پرله پسې رقمو نو ترمنځ اړوندواټن یو ساعت را ښیي کله چې د ساعت ښوونکی عقربه ددووپرله پسې رقمونو ترمنځ واټن ووهي یو ساعت را ښیي، چې ددې وخت په اوږدوالي کې د دقیقې ښودونکې عقربه دساعت د ابرې بشپړه دوره ووهي، دیوه ساعت دوخت او ږدوالي په ۶۰ مساوي برخو ویشلې ده چې هرې برخې ته دقیقه ویل کیږي او همدارنگه دهر دوو پرله پسې رقمونو ترمنځ واټن په پنځو مساوي برخو ویشل شوې ده چې هره برخه، یې یوه دقیقه را ښیي.





زده کوونکی دې لاندې پوښتنو ته ځواب ووایي.
د کارك یا کاغذ په یوې ټوټې باندې دگیلاس یا پیالې په مرسته یوه دایره رسم کړئ ددې دایرې محیط په ۱۲ مساوي برخو وویشئ هره برخه په مسلسله توگه د ارقامو په واسطه، له (۱) څخه تر (۱۲) پورې وښیاست دوه عقربې چې اوږدوالي یې یو له بله سره توپیرولري جوړې کړئ بیا دا عقربې ددایرې په مرکزکې د یوه سنجاق یا ستنې په واسطه ونښلوئ چې په حقیقت کې د یوه ساعت مودل مو بشپړ کړی دی او د هغه په واسطه لاندې مختلف وختونه وښیاست.
۱-۶بجې، ۲- ۶ بجې او ۵ دقیقې، ۳- ۷ بجې او ۱۵ دقیقې ۴- ۴ بجې او ۳۰ دقیقې، ۵-۳بجې او ۴۵ دقیقې ۶-آیا ویلای شئ چې ستاسو ښوونځی په څو بجو پیل کیږي ۷- آیا ویلای شئ که چیرې د ساعت ښودونکی عقربه یوه بشپړه دوره ووهي څو ساعته تیر شوي دي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلور دېرشم لوست: ساعت (ګړۍ) پېژند نه

**هدف:** زده کوونکي ګړۍ وپېژني، د ګړۍ ښودونکي، دقیقه ښودونکي او ثانیه ښودونکي په موقعیت سره وخت تشخیص او ولوستلای شي.




د ساعت په یوه مخ باندې چې په عمومي توګه دایره وي شکل لري ۱۲ عددونه په معلومو ځایونو کې وینئ، د هرو دواړو عددونو په منځ کې ۵ واړه خطونه یا نقطې دي کوم وخت چې ثانیه ښودونکی له یوه عدد څخه پیل وکړي او یوه بشپړه دوره ووهي دقیقه ښودونکی له یوې نقطې څخه بلې نقطې ته رسیږي، ویل کیږي چې یوه دقیقه تیره شوې ده. که چیرې دقیقه ښودونکی له یوه عدد څخه په حرکت پیل وکړي د یوې بشپړې دورې وهلو وروسته یعنې له ۶۰ نقطو یا خطونو څخه تیر شي چې په حقیقت کې ۶۰ دقیقې یا یو ساعت تیر شوی دی په دې صورت کې د ساعت ښودونکی عقربه له یوه عدد څخه بل عدد ته رسیږي نو په دې صورت کې لیکلی شو چې:




۶۰ دقیقې = ۱ ساعت

۶۰ ثانیې = ۱ دقیقه



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ساعت لوستل:



ب



الف

که چیري د الف شکل ګړۍ ته پاملرنه وکړئ لیدل کیږي چې دقیقه ښودونکی د ۱۲ د عدد مخامخ او ګړۍ ښودونکی د ۴ د عدد په مقابل کې قرار لري داسې لوستل کیږي چې ګړۍ ۴ بجې دي. او یا داسې ۴:۰۰.
اوس که چیرې دقیقه ښودونکی له ۱۲ څخه حرکت وکړي لکه د (ب) شکل د ۳ د عدد په مقابل کې قرار ونیسي د ګړۍ ښودونکی ځای هم د ۴ رقم څخه بدلون کوي په دې حالت کې ګړۍ داسې لوستل کیږي له څلورو څخه پنځلس دقیقې تیرې دي یا ۴:۱۵ یا پنځلس د پاسه ۴ بجې دي.



پوښتنې:

۱. لاندې شکلونو ته ځیر شئ، وختونه لکه د ښي خوا د ساعت وختونه په دوو طریقو سره په خپلو کتابچو کې ولیکئ.



۳:۴۵
۱۵ پاتې ۴ ته
او یا ۱۵ کم ۴ بجې دي



(c) ketabton.com: The Digital Library

۲. مخامخ شکل په خپلو کتابچو کې رسم کړئ.



رسم ته ځیر شئ لکه د ۵، ۱۰، او ۱۵ عددونه د ګړۍ د دایرې څخه د باندې د نورو عددونو مخې ته په ترتیب سره د ۵،۵ په زیاتولو د هغه مناسب عدد ولیکئ په پای کې وواياست چې د ۱۲ په عدد باندې کوم عدد لیکل کیږي، لیکل شوی عدد څه شئ ښيي؟

کورنۍ دنده


لاندې هر یو ساعت په خپلو کتابچو کې رسم کړئ او وواياست هره یوه یې کوم وخت ښيي، ساعتونه په پام کې ونیسئ د هر ساعت وخت په خپلو کتابچو کې ولیکئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځه دیرشم لوست: د ساعت په واسطه د وخت ټاکل

هدف: زده کوونکي وکړای شي د ساعت په واسطه خپل د کار وخت تنظیم او برابر کړي.




۱. پورتنی هر یو شکل کوم وخت راښیي؟

۲. یو له بله څه توپیر لري؟

۳. ساعت ښوونکی او دقیقه ښوونکی یو له بله څه توپیر لري؟


۴. د ساعت مخ په څو مساوي برخو ویشل شوی دی؟

۵. که چیرې د ساعت ښوونکي عقربه د ۳ د عدد مخامخ او دقیقه ښوونکی عقربه د ۲ د عدد مخامخ وي. کوم وخت راښیي؟

۶. په ساعت کې د ۲ او ۳ دوو عددو تر منځ څو دقیقې دي؟



لاندې ساعتونه د نمونې په توګه درکړل شوي دي هغو ته ځير شئ.
د هغو د هر يوه تر لاندې تش ځاى شته. اړوند وخت يې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.



د پورته ساعتونو رسمونو ته پاملرنه وکړئ او ځوابونه يې وواياست.

الف: درې واړه ساعتونه يو له بله څه توپير لري؟

ب: که چيرې دقيقه ښودونکی د ۱۲ له عدد څخه د ۲ عددته ورسيږي نوموړي ساعتونه کوم وخت ښيي؟

ج: که چيرې دقيقه ښودونکی له ۱۲ څخه حرکت وکړي او د ٦ عدد ته ورسيږي په پورتنيو شکلونو کې ساعتونه څو بجې راښيي.

د: که چيرې دقيقه ښودونکی د ۱۲ له عدد څخه حرکت وکړي او يوه بشپړه دوره ووهي او بيا د ۱۲ عدد ته را ورسيږي هر يو ساعت کوم وخت راښيي؟






(c) ketabton.com: The Digital Library




لاندې عبارتونه بشپړ کړئ د ساعتونو عقربې په خپلو کتابچو کې رسم کړئ.



۱. زه له خوبه په.............................. بجو وېښېږم.



۲. زموږ ښوونځی په........................ بجو پېل کېږي.



۳. زه د غرمې ډوډۍ په...................... بجو خورم.



۴. زه په.........................بجو کورنۍ دنده سرته رسوم.



۵. زه په.......................... بجو له ښوونځي څخه رخصت کېږم.

زده کوونکي دې د يوه ساعت مودل له کاغذ څخه قيچي کړي او د مازيګر د لمانځه وخت دې په هغه کې وښيي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شپږ دېرشم لوست: اونۍ ، میاشتې او کال

هدف: زده کوونکي وکړای شي، اونۍ، میاشت او کال وپېژني.



| | | |
|---|---|---|
| ۲۴ ساعته | = | یوه شپه او ورځ |
| ۷ شپې او ورځې | = | یوه اونۍ |
| ۴ (اونۍ) | = | یوه میاشت |
| ۳۰ ورځې | = | یوه میاشت |
| ۱۲ میاشتې | = | یو کال |
| ۳٦۵ ورځې | = | یو کال |
| ۴ فصله | = | یو کال |



لاندې تش ځایونه د حل شوي مثال په توګه په مناسبو عددونو سره ډک کړئ!

مثال:

یوه میاشت __۳۰__ ورځې ده.

یو کال ______ ورځې دي.

یوه اونۍ ______ ورځې ده.

یوه میاشت ______ اونۍ ده.

یو کال ______ میاشتې دي.

# اوه دېرشم لوست: د جنتري پېژندنه

هدف: زده کوونکي جنتري وپېژني او د هغې څخه کار واخستلی شي.

**حمل - وری ۱۳۸۵** (2006)

| جمعه fri | پنجشنبه thu | چهارشنبه wed | سه شنبه tue | دوشنبه mon | یکشنبه sun | شنبه sat |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۴ [24] | ۳ [23] | ۲ [22] | ۱ [21] | | | |
| ۱۱ [31] | ۱۰ [30] | ۹ [29] | ۸ [28] | ۷ [27] | ۶ [26] | ۵ [25] |
| ۱۸ [7] | ۱۷ [6] | ۱۶ [5] | ۱۵ [4] | ۱۴ [3] | ۱۳ [2] | ۱۲ [April] |
| ۲۵ [14] | ۲۴ [13] | ۲۳ [12] | ۲۲ [11] | ۲۱ [10] | ۲۰ [9] | ۱۹ [8] |
| | ۳۱ [20] | ۳۰ [19] | ۲۹ [18] | ۲۸ [17] | ۲۷ [16] | ۲۶ [15] |

**ثور - غویی ۱۳۸۵** (2006)

| جمعه fri | پنجشنبه thu | چهارشنبه wed | سه شنبه tue | دوشنبه mon | یکشنبه sun | شنبه sat |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ [21] | | | | | ۳۱ [21] | ۳۰ [20] |
| ۸ [28] | ۷ [27] | ۶ [26] | ۵ [25] | ۴ [24] | ۳ [23] | ۲ [22] |
| ۱۵ [5] | ۱۴ [4] | ۱۳ [3] | ۱۲ [2] | ۱۱ [May] | ۱۰ [30] | ۹ [29] |
| ۲۲ [12] | ۲۱ [11] | ۲۰ [10] | ۱۹ [9] | ۱۸ [8] | ۱۷ [7] | ۱۶ [6] |
| ۲۹ [19] | ۲۸ [18] | ۲۷ [17] | ۲۶ [16] | ۲۵ [15] | ۲۴ [14] | ۲۳ [13] |

**جوزا - غبرګولی ۱۳۸۵** (2006)

| جمعه fri | پنجشنبه thu | چهارشنبه wed | سه شنبه tue | دوشنبه mon | یکشنبه sun | شنبه sat |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۵ [26] | ۴ [25] | ۳ [24] | ۲ [23] | ۱ [22] | | |
| ۱۲ [2] | ۱۱ [June] | ۱۰ [31] | ۹ [30] | ۸ [29] | ۷ [28] | ۶ [27] |
| ۱۹ [9] | ۱۸ [8] | ۱۷ [7] | ۱۶ [6] | ۱۵ [5] | ۱۴ [4] | ۱۳ [3] |
| ۲۶ [16] | ۲۵ [15] | ۲۴ [14] | ۲۳ [13] | ۲۲ [12] | ۲۱ [11] | ۲۰ [10] |
| | | ۳۱ [21] | ۳۰ [20] | ۲۹ [19] | ۲۸ [18] | ۲۷ [17] |

**سرطان - چنګاښ ۱۳۸۵** (2006)

| جمعه fri | پنجشنبه thu | چهارشنبه wed | سه شنبه tue | دوشنبه mon | یکشنبه sun | شنبه sat |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲ [23] | ۱ [22] | | | | | ۳۱ [22] |
| ۹ [30] | ۸ [29] | ۷ [28] | ۶ [27] | ۵ [26] | ۴ [25] | ۳ [24] |
| ۱۶ [7] | ۱۵ [6] | ۱۴ [5] | ۱۳ [4] | ۱۲ [3] | ۱۱ [2] | ۱۰ [July] |
| ۲۳ [14] | ۲۲ [13] | ۲۱ [12] | ۲۰ [11] | ۱۹ [10] | ۱۸ [9] | ۱۷ [8] |
| ۳۰ [21] | ۲۹ [20] | ۲۸ [19] | ۲۷ [18] | ۲۶ [17] | ۲۵ [16] | ۲۴ [15] |

**اسد - زمری ۱۳۸۵** (2006)

| جمعه fri | پنجشنبه thu | چهارشنبه wed | سه شنبه tue | دوشنبه mon | یکشنبه sun | شنبه sat |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۶ [28] | ۵ [27] | ۴ [26] | ۳ [25] | ۲ [24] | ۱ [23] | |
| ۱۳ [4] | ۱۲ [3] | ۱۱ [2] | ۱۰ [August] | ۹ [31] | ۸ [30] | ۷ [29] |
| ۲۰ [11] | ۱۹ [10] | ۱۸ [9] | ۱۷ [8] | ۱۶ [7] | ۱۵ [6] | ۱۴ [5] |
| ۲۷ [18] | ۲۶ [17] | ۲۵ [16] | ۲۴ [15] | ۲۳ [14] | ۲۲ [13] | ۲۱ [12] |
| | | | ۳۱ [22] | ۳۰ [21] | ۲۹ [20] | ۲۸ [19] |

**سنبله - وږی ۱۳۸۵** (2006)

| جمعه fri | پنجشنبه thu | چهارشنبه wed | سه شنبه tue | دوشنبه mon | یکشنبه sun | شنبه sat |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳ [25] | ۲ [24] | ۱ [23] | | | | |
| ۱۰ [September] | ۹ [31] | ۸ [30] | ۷ [29] | ۶ [28] | ۵ [27] | ۴ [26] |
| ۱۷ [8] | ۱۶ [7] | ۱۵ [6] | ۱۴ [5] | ۱۳ [4] | ۱۲ [3] | ۱۱ [2] |
| ۲۴ [15] | ۲۳ [14] | ۲۲ [13] | ۲۱ [12] | ۲۰ [11] | ۱۹ [10] | ۱۸ [9] |
| ۳۱ [22] | ۳۰ [21] | ۲۹ [20] | ۲۸ [19] | ۲۷ [18] | ۲۶ [17] | ۲۵ [16] |

۱- د حمل میاشت پیدا کړئ. په حمل کې ۱۷ د حمل په کومه ورځ راځي؟

۲- د سرطان میاشت کومه ده؟ د سرطان ۱۱ نېټه په کومه ورځ راځي.

۳- نورې میاشتې هم په دغه ډول تر کار لاندې ونیسئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## میزان - تله ۱۳۸۵

September October 2006 — شعبان المعظم ۱۴۲۷ رمضان المبارک

| جمعه fri | پنجشنبه thu | چهارشنبه wed | سه شنبه tue | دوشنبه mon | یکشنبه sun | شنبه sat |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۷ (29) ۶ | ۶ (28) ۵ | ۵ (27) ۴ | ۴ (26) ۳ | ۳ (25) ۲ | ۲ (24) رمضان المبارک | ۱ (23) ۲۹ |
| ۱۴ (6) ۱۳ | ۱۳ (5) ۱۲ | ۱۲ (4) ۱۱ | ۱۱ (3) ۱۰ | ۱۰ (2) ۹ | ۹ (October) ۸ | ۸ (30) ۷ |
| ۲۱ (13) ۲۰ | ۲۰ (12) ۱۹ | ۱۹ (11) ۱۸ | ۱۸ (10) ۱۷ | ۱۷ (9) ۱۶ | ۱۶ (8) ۱۵ | ۱۵ (7) ۱۴ |
| ۲۸ (20) ۲۷ | ۲۷ (19) ۲۶ | ۲۶ (18) ۲۵ | ۲۵ (17) ۲۴ | ۲۴ (16) ۲۳ | ۲۳ (15) ۲۲ | ۲۲ (14) ۲۱ |
| | | | | | ۳۰ (22) ۲۹ | ۲۹ (21) ۲۸ |

## عقرب - لرم ۱۳۸۵

October November 2006 — رمضان المبارک ۱۴۲۷ شوال المکرم

| جمعه fri | پنجشنبه thu | چهارشنبه wed | سه شنبه tue | دوشنبه mon | یکشنبه sun | شنبه sat |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۵ (27) ۴ | ۴ (26) ۳ | ۳ (25) ۲ | ۲ (24) شوال المکرم | ۱ (23) ۳۰ | | |
| ۱۲ (3) ۱۱ | ۱۱ (2) ۱۰ | ۱۰ (November) ۹ | ۹ (31) ۸ | ۸ (30) ۷ | ۷ (29) ۶ | ۶ (28) ۵ |
| ۱۹ (10) ۱۸ | ۱۸ (9) ۱۷ | ۱۷ (8) ۱۶ | ۱۶ (7) ۱۵ | ۱۵ (6) ۱۴ | ۱۴ (5) ۱۳ | ۱۳ (4) ۱۲ |
| ۲۶ (17) ۲۵ | ۲۵ (16) ۲۴ | ۲۴ (15) ۲۳ | ۲۳ (14) ۲۲ | ۲۲ (13) ۲۱ | ۲۱ (12) ۲۰ | ۲۰ (11) ۱۹ |
| | | | ۳۰ (21) ۲۹ | ۲۹ (20) ۲۸ | ۲۸ (19) ۲۷ | ۲۷ (18) ۲۶ |

## قوس - لیندی ۱۳۸۵

November December 2006 — ذیقعده الحرام ۱۴۲۷

| جمعه fri | پنجشنبه thu | چهارشنبه wed | سه شنبه tue | دوشنبه mon | یکشنبه sun | شنبه sat |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳ (24) ۳ | ۲ (23) ۲ | ۱ (22) ذیقعده الحرام | | | | |
| ۱۰ (December) ۱۰ | ۹ (30) ۹ | ۸ (29) ۸ | ۷ (28) ۷ | ۶ (27) ۶ | ۵ (26) ۵ | ۴ (25) ۴ |
| ۱۷ (8) ۱۷ | ۱۶ (7) ۱۶ | ۱۵ (6) ۱۵ | ۱۴ (5) ۱۴ | ۱۳ (4) ۱۳ | ۱۲ (3) ۱۲ | ۱۱ (2) ۱۱ |
| ۲۴ (15) ۲۴ | ۲۳ (14) ۲۳ | ۲۲ (13) ۲۲ | ۲۱ (12) ۲۱ | ۲۰ (11) ۲۰ | ۱۹ (10) ۱۹ | ۱۸ (9) ۱۸ |
| | ۳۰ (21) ۳۰ | ۲۹ (20) ۲۹ | ۲۸ (19) ۲۸ | ۲۷ (18) ۲۷ | ۲۶ (17) ۲۶ | ۲۵ (16) ۲۵ |

## جدی - مرغومی ۱۳۸۵

December 2006 January 2007 — ذیحجه الحرام ۱۴۲۷ محرم الحرام ۱۴۲۸

| جمعه fri | پنجشنبه thu | چهارشنبه wed | سه شنبه tue | دوشنبه mon | یکشنبه sun | شنبه sat |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ (22) ذیحجه الحرام | | | | | | ۳۰ (20) محرم الحرام |
| ۸ (29) ۸ | ۷ (28) ۷ | ۶ (27) ۶ | ۵ (26) ۵ | ۴ (25) ۴ | ۳ (24) ۳ | ۲ (23) ۲ |
| ۱۵ (5) ۱۵ | ۱۴ (4) ۱۴ | ۱۳ (3) ۱۳ | ۱۲ (2) ۱۲ | ۱۱ (January) ۱۱ | ۱۰ (31) ۱۰ | ۹ (30) ۹ |
| ۲۲ (12) ۲۲ | ۲۱ (11) ۲۱ | ۲۰ (10) ۲۰ | ۱۹ (9) ۱۹ | ۱۸ (8) ۱۸ | ۱۷ (7) ۱۷ | ۱۶ (6) ۱۶ |
| ۲۹ (19) ۲۹ | ۲۸ (18) ۲۸ | ۲۷ (17) ۲۷ | ۲۶ (16) ۲۶ | ۲۵ (15) ۲۵ | ۲۴ (14) ۲۴ | ۲۳ (13) ۲۳ |

## دلو - سلواغه ۱۳۸۵

January February 2007 — محرم الحرام ۱۴۲۸ صفرالمظفر

| جمعه fri | پنجشنبه thu | چهارشنبه wed | سه شنبه tue | دوشنبه mon | یکشنبه sun | شنبه sat |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۶ (26) ۷ | ۵ (25) ۶ | ۴ (24) ۵ | ۳ (23) ۴ | ۲ (22) ۳ | ۱ (21) ۲ | |
| ۱۳ (2) ۱۴ | ۱۲ (February) ۱۳ | ۱۱ (31) ۱۲ | ۱۰ (30) ۱۱ | ۹ (29) ۱۰ | ۸ (28) ۹ | ۷ (27) ۸ |
| ۲۰ (9) ۲۱ | ۱۹ (8) ۲۰ | ۱۸ (7) ۱۹ | ۱۷ (6) ۱۸ | ۱۶ (5) ۱۷ | ۱۵ (4) ۱۶ | ۱۴ (3) ۱۵ |
| ۲۷ (16) ۲۸ | ۲۶ (15) ۲۷ | ۲۵ (14) ۲۶ | ۲۴ (13) ۲۵ | ۲۳ (12) ۲۴ | ۲۲ (11) ۲۳ | ۲۱ (10) ۲۲ |
| | | | | ۳۰ (19) صفرالمظفر | ۲۹ (18) ۳۰ | ۲۸ (17) ۲۹ |

## حوت - کب ۱۳۸۵

January February 2007 — محرم الحرام ۱۴۲۸ صفرالمظفر

| جمعه fri | پنجشنبه thu | چهارشنبه wed | سه شنبه tue | دوشنبه mon | یکشنبه sun | شنبه sat |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۴ (23) ۵ | ۳ (22) ۴ | ۲ (21) ۳ | ۱ (20) ۲ | | | |
| ۱۱ (2) ۱۲ | ۱۰ (March) ۱۱ | ۹ (28) ۱۰ | ۸ (27) ۹ | ۷ (26) ۸ | ۶ (25) ۷ | ۵ (24) ۶ |
| ۱۸ (9) ۱۹ | ۱۷ (8) ۱۸ | ۱۶ (7) ۱۷ | ۱۵ (6) ۱۶ | ۱۴ (5) ۱۵ | ۱۳ (4) ۱۴ | ۱۲ (3) ۱۳ |
| ۲۵ (16) ۲۶ | ۲۴ (15) ۲۵ | ۲۳ (14) ۲۴ | ۲۲ (13) ۲۳ | ۲۱ (12) ۲۲ | ۲۰ (11) ۲۱ | ۱۹ (10) ۲۰ |
| | | | ۲۹ (20) ربیع الاول | ۲۸ (19) ۲۹ | ۲۷ (18) ۲۸ | ۲۶ (17) ۲۷ |




۱- د چنګاښ د میاشتې د ورځو تش ځایونه د جنتري له مخې ډك كړئ!

| جمادی الاول ۱۴۲۷ جمادی الاخر | | سرطان - چنګاښ ۱۳۸۵ | | | | June July 2006 |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| شنبه sat | یکشنبه sun | دوشنبه mon | سه شنبه tue | چهارشنبه wed | پنجشنبه thu | جمعه fri |
| ۳۱ ۲۵ 22 | | | | | ۱ ۲۵ 22 | ۲ ۲۶ 23 |
| ۳ ۲۷ 24 | ۴ ۲۸ 25 | | ۶ ۳۰ 27 | ۷ 28 | ۸ ۲ 29 | ۹ ۳ 30 |
| ۱۰ ۴ July | ۱۱ ۵ 2 | ۱۲ ۶ 3 | | | ۱۵ ۹ 6 | ۱۶ ۱۰ 7 |
| | | ۱۹ ۱۳ 10 | ۲۰ ۱۴ 11 | | ۲۲ ۱۶ 13 | ۲۳ ۱۷ 14 |
| ۲۴ ۱۸ 15 | | | ۲۷ ۲۱ 18 | ۲۸ ۲۲ 19 | | |

۲- د جنتري له مخې د كال كومې میاشتې ۳۱ ورځې دي؟

............ ............ ............ ............ ............ ............

۳- د كال كومې میاشتې ۳۰ ورځې دي؟

............ ............ ............ ............ ............ ............

۴- د كال كومې میاشتې ۲۹ ورځې دي؟

............ ............ ............ ............ ............ ............

۵- سږ كال د زمري د میاشتې ۲۸ نېټه د اونۍ له كومې ورځې سره سمون لري؟

............ ............ ............ ............ ............ ............



(c) ketabton.com: The Digital Library


د زمري د میاشتې د چهارشنبې په ورځ کوم کوم تاریخونه دي؟

٦. زه د .............. کال د.......... په میاشت کې ښوونځي ته شامل شوی یم.

٧. زه په.......... کال کې له دویم ټولګي څخه دریم ټولګي ته بریالی شوی یم.

٨. د اونۍ ورځې د جنتري له مخې ولیکئ!

٩. د کال د میاشتو نومونه په ترتیب سره د جنترۍ له مخې په خپلو کتابچو کې ولیکئ!



کورنۍ دنده

زده کوونکي دې هر یو د پلار او مور په مرسته د خپلو زیږیدلو، کال، میاشت او ورځ په خپلو کتابچو کې ولیکي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# اته دېرشم لوست: د ليتر پېژندنه

هدف: زده كوونكي پوه شي په ورځنی ژوند كې مايعات په ليتر باندې اندازه كيږي.



پوښتنې:


۱. څوك پوهيږي چې تېل د څه شي په واسطه اندازه كيږي؟
۲. شيدې د څه شي په واسطه اندازه كيږي؟
۳. اوبه د څه شي په واسطه اندازه كوي.



ګرانو زده‌كوونكو! كه چيرې ځير شوي ياست د تيلو په ګيلنو، په مايع دواګانو د اوبو په بوشكو او په مايع غوړيو باندې د ليتر كلمه ليكل شوې وي.

نو بايد پوه شئ چې مايعات د ليتر په واسطه اندازه كيږي. كه چيرې ۴ معمولي ګيلاس اوبه په يوه لوښي او يا يوه جك كې واچوو نو تقريباً يو ليتر اوبه كيږي.

تاسو كولای شئ چې دغه ۴ معمولي ګيلاسو اوبو مقدار، د يوه ليتر په توګه ومنئ. دتيلو، شيدو، مايع غوړيو او اوبو په رانيولو او پلورلو كې د ليتر څخه كار واخلئ ډېرو تيل پلورونكي سر خلاصې بوتل او يا ګيلن په نښه كوي په پلورلو او رانيولوكې له هغو څخه د مايعاتو د واحد په توګه كار اخلي.





(c) ketabton.com: The Digital Library

**پوښتنې:**

۱- څو ګيلاسه اوبه يو ليتر کيږي؟

۲- ۲ ګيلاسه اوبه څو ليتره کيږي؟

۳- که چيرې د يوه ليتر تيلو بيه ۲۵ افغانۍ وي د ۵ ليترو تيلو بيه چې يو ګيلن کيږي څو افغانۍ کيږي؟

۴- که چيرې د دوو ګيلاسونو شيدو بيه ۲۰ افغانۍ وي يو ليتر څو افغانۍ کيږي؟

۵- د وه ليتره څو ګيلاسه اوبه کيږي؟

۶- د (أ، آر، إس) په پاکټونو باندې ليکل شوي دي چې په يوه ليتر اوبو کې حل او کار ورڅخه واخلئ که چيرې د ليتر اندازه ونه لرئ د ګيلاسونو په واسطه څرنګه ليتر اندازه کوئ؟

۷- د =، < او > نښو څخه په کار اخيستنې د لاندې لوښو ظرفيت پرتله کړئ!



الف



ب



ث



ث

ب ☐ الف　　الف ☐ ت　　ب ☐ ت　　ب ☐ ث

**کورنۍ دنده**

زده کوونکي دې د (أ، آر، اس) د پاکټونو د حل کولو له پاره د يوه ليتر اندازه کول د ګيلاسونو په واسطه خپلو کورنيو ته وښيي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# نهه دېرشم لوست: د يوه رقمي عددونو ضرب کول په څو رقمي عددونو کې

هدف: زده کوونکي وکړای شي يو رقمي عددونه په څو رقمي عددونو کې ضرب کړي.


ګرانو زده‌کوونکو! تاسو مخکې ديوه رقمي عددونو ضرب کول په دوه رقمي عددونو کې زده کړي دي.

اوس غواړو چې د ۲۱۴ درې رقمي عدد ٦ په عدد کې ضرب کړو.

**لومړی:**

د ٦ عدد د ۲۱۴ د عدد د يويزو په رقم کې چې ۴ دی ضربوو.

(٦ × ۴=۲۴)




د ۲۴ د عدد د يويزو رقم هم چې ۴ دی د ضرب د حاصل د يويزو په مرتبه کې ليکو او د ۲۴ د لسيزو رقم چې ۲ دی د ۲۱۴ د عدد د لسيزو د مرتبې پورته ليکو.

**دويم:**

د ٦ عدد د ۲۱۴ د عدد د لسيزو په رقم کې چې (۱) دی ضرب کوواو د ۲ رقم سره چې حاصل نيول شوی دی جمع کوو.

۸=۲+(٦ × ۱)

چې د ۸ عدد حاصل کيږي او د ضرب د حاصل د لسيزو په مرتبه کې يې ليکو.

**دريم:**

د ٦ عدد د ۲۱۴ د عدد په سليزوکې چې ۲ دی ضرب کوو ۱۲=(۲ × ٦) کيږي د ۱۲ د عدد د ۲ رقم د ضرب د حاصل د سليزو په مرتبه کې او د (۱) رقم يې د زريزو په مرتبه کې ليکو او د ۱۲۸۴ عدد په لاس راځي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- د ۱۱۲ عدد د ۹ په عدد کې ضرب کړئ!

۲- د ۴۰۸ عدد د ۷ په عدد کې ضرب کړئ!

۳- د ۳۰۰ عدد د ۸ په عدد کې ضرب کړئ!

۴- لاندې پوښتنې حل کړئ!

| | | |
|---|---|---|
| ۶۵۴ × ۷ = ☐ | ۷۴۵ × ۶ = ☐ | ۳۴۱ × ۵ = ☐ |

۵- د لاندې مثال نه په کار اخستنې سره لاندې پوښتنې حل کړئ.

مثال :

$$\begin{array}{r} ۳۸۷۲ \\ \times \quad ۸ \\ \hline ۳۰۹۷۶ \end{array}$$

| | | |
|---|---|---|
| ۹۶۰۴ × ۷ = ☐ | ۶۰۰۲ × ۸ = ☐ | ۱۲۸۴ × ۵ = ☐ |

۶ – لاندې پوښتنې حل کړئ!

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۷۳۲ × ۶ = ☐ | ۵۱۴ × ۷ = ☐ | ۱۱۷۸ × ۵ = ☐ | ۷۰۴۳ × ۸ = ☐ |

کورنۍ دنده

لاندې پوښتنې حل کړئ!

| | | |
|---|---|---|
| ۱۷۴ × ۴ = ☐ | ۶۰۰۲ × ۹ = ☐ | ۹۰۴۴ × ۸ = ☐ |



(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلويښتم لوست: د دوو رقمي عددونو ضرب کول په دوو رقمي عددونو کې

هدف: زده کوونکي وکړای شي دوه رقمي عددونه په دوه رقمي عددونو کې ضرب کړي.

**مثال:** غواړو د ۲۳ عدد د ۱٦ په عدد کې ضرب کړو.

**لومړی:**

د ۱٦ د عدد ديويزو مرتبه چې د ٦ عدد دی د يوه رقمي او دوه رقمي عددونو د ضرب په ډول سره ضرب وو چې د ضرب حاصل يې ۱۳۸ کيږي.

```
   ۲۳
×  ۱٦
-----
  ۱۳۸
```

**دويم:**

د ۱٦ د عدد لسيز مرتبه چې د ۱ عدد دی د ۲۳ په عدد کې ضرب کوو چې په حقيقت کې د ۱۰ ضرب کول په ۲۳ کې دی چې د ضرب د حاصل د ۳ رقم يې د لسيزو د مرتبې لاندې او د ۲ رقم يې د سليزو د مرتبې لاندې ليکو په پای کې د ۱۳۸، او ۲۳ د جمعې حاصل په لاس راوړو په نتيجه کې د ۳٦۸ عدد حاصل کيږي. چې د ۱ د ۱٦ او ۲۳ عددونو د ضرب حاصل دی.

```
   ۲۳
×  ۱٦
-----
  ۱۳۸
+ ۲۳
-----
  ۳٦۸
```




لاندې پوښتنې حل کړئ!

```
   ۲۵        ۱۹        ۱۵
×  ۱۱     ×  ۱۳     ×  ۲۱
-----     -----     -----
```



(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې له پاره چې صفر لرونکي عددونه په آسانۍ سره ضرب کړای شو لاندې مثال په نظر کې نیسو.

$$۴۰ \times ۳۰ = ?$$

**لومړی حالت:**

```
   ۴۰
×  ۳۰
------
   ۰۰
+ ۱۲۰
------
 ۱۲۰۰
```

**دويم حالت:**


$۴۰ \times ۳۰ = ?$

په دې حالت کې د عددونو صفرونه په نظر کې نه نیسو يوازې د ۳ او ۴ رقمونه يو له بل سره ضرب کوو يعنې ($۴ \times ۳ = ۱۲$)

بيا د ضرب د دواړو اجزاو د صفرونو په شمېر صفرونه د ضرب د حاصل مخې ته لیکو يعنې. $۴۰ \times ۳۰ = ۱۲۰۰$

**کورنۍ دنده**

لاندې پوښتنې د حل شوي مثال نه په کار اخستنې سره په خپلو کتابچو کې حل کړئ!






(c) ketabton.com: The Digital Library

**مشق او تمرين**

۱. د لاندې عددونو د ضرب حاصل په لاس راوړئ!



الف: ۳۰ او ۴۰ ذ: ۱۰ او ۲۰۰

ب: ۶۱ او ۹۰ ر: ۶۳ او ۱۰۰

د: ۶۰ او ۳۰۰ ز: ۷۲او ۸۰

۲. د ضرب د حاصل په کارولو سره لاندې تش ځايونه د حل شوي مثال په ډول د مناسبو صفرونو په شمېر سره ډک کړئ.

مثال: ۴۲۰۰ = [۰] ۶۰×۷

ج: ۴۰۰۰ = [ ] ۸ × [ ] ۵  الف: ۴۲۰۰ = [ ] ۷۰×۶

د: ۷۳۰۰ = ۷۳× [ ] ۱  ب: ۶۵۰ = [ ] ۶۵×۱

هـ: ۲۰۰ = [ ] ۴×۵

**کورنۍ دنده**

څو دوه رقمي عددونه چې د هغو ښي خواته صفر وي وليکئ، بيا يې يو له بله سره ضرب کړئ او د ضرب حاصل يې لاس ته راوړئ.




(c) ketabton.com: The Digital Library

مشق او تمرين

۳. لاندې پوښتنو ته په شفاهي توګه ځواب ووایاست.

| | | |
|---|---|---|
| ۱۰×۰=? | ۱×۷=? | ۲×۵=? |
| ۸۰×۰=? | ۱×۲۲=? | ۵۰×۲۰=? |
| ۱۰×۵۰=? | ۳۲×۱=? | ۸۰×۴۰=? |
| ۰×۱=? | ۸۰×۱۰=? | ۷۰×۴۰=? |
| ۱۴۰×۰=? | ۹۰×۲۰=? | ۶۰×۸=? |
| ۲۲×۲۰=? | ۱۱×۱=? | ۴۰×۹۰=? |
| ۳۰×۰=? | | |
| ۲۰×۲۲۰=? | | |

۴. الف: د لاندې شکل له مخې د ضرب یوه پوښتنه ولیکئ او د ضرب عملیه په هغه باندې سرته ورسوئ.




____ × ____ = ____

ب: لاندې پوښتنه ضرب کړئ او په شکل کې وښیاست.

۳ × ۱۰ =?

کورنۍ دنده

۵. لاندې پوښتنې حل کړئ!

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۱ | ۶۳ | ۷۸ | ۹۵ | ۸۰ | ۹۹ |
| × ۲۲ | × ۳۵ | × ۵۲ | × ۲۷ | × ۴۰ | × ۹۹ |



(c) ketabton.com: The Digital Library

# يو څلويښتم لوست: د دوو رقمي عددونو ضرب په درې رقمي عددونو کې


هدف: زده کوونکي وکړای شي دوه رقمي عددونه په درې رقمي عددونو کې ضرب کړي.

ګرانو زده‌کوونکو تاسو په تېرو لوستونو کې ديوه رقمي او دوه رقمي عددونو ضرب له دوه رقمي عددونو سره زده کړی او د هغه په طريقه باندې پوه شوي ياست اوس درې رقمي عددونه له دوه رقمي عددونو سره ضرب کوو.

مثال: غواړو چې د ۷۶۵ عدد د ۵۸ له عدد سره ضرب کړو.

```
   ۷۶۵
 × ۵۸
 ------
  ۶۱۲۰
+ ۳۸۲۵
 ------
 ۴۴۳۷۰
```

لومړی د ۸۵ د عدد د يويزو رقم يعنې ۸ د ۷۶۵ په عدد کې ضرب کوو چې د ۶۱۲۰ عدد په لاس راځي بيا د ۵۸ د عدد، د لسيزو رقم يعنې ۵ د ۷۶۵ په عددکې ضرب کوو. چې د ۳۸۲۵ عدد حاصليږي. چې ددې عدد د يويزو رقم د ۶۱۲۰ د عدد د لسيزو تر مرتبې لاندې ليکو په پای کې دواړه لاس ته راغلي عددونه يو له بله سره جمع کوو چې د ۴۴۳۷۰ عدد لاس ته راځي.



پوښتنې:

لاندې درکړل شوي عددونه يو له بله سره ضرب کړئ.

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۹۰۰ | ۸۴۰ | ۲۰۸ | ۱۳۶ | ۶۰۱ | ۷۲۵ | ۹۱۰ |
| ۷۱ × | ۶۷ × | ۹۶ × | ۲۷ × | ۱۴ × | ۲۰ × | ۶۲ × |
| ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |



(c) ketabton.com: The Digital Library

**مشق او تمرین**

۱. لاندې درکړل شوي عددونه یو له بله سره ضرب کړئ.

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۷٦۴ | ۱۷۳ | ۱۰۱ | ۹۰۰ |
| × ۷۳ | × ٦۴ | × ۷۳ | × ۱۰ |
| | | | |
| ۷۰۴ | ۱۰۲ | ۱۹۸ | ٦۸۷ |
| × ٦۲ | × ۴۴ | × ۸۷ | × ۹۸ |
| | | | |

۲. که چیرې د یوې نکلي چاینکې بیه ۱۵۷ افغانۍ وي د یوه درجن (۱۲ دانو) بیه به څو افغانۍ وي؟

۳. که چیرې د یوه صندوق منو بیه ۲۱۸ افغانۍ وي د ۹۰ صندوقونو بیه معلومه کړئ؟

۴. شریف د یوې ځغاستې په مسابقه کې ٦۰ متره لاره په یوه دقیقه کې وهي معلوم کړئ چې په یوه ساعت کې به څو متره لاره ووهي؟

۵. د یوې قطۍ ګوګړو بیه یوه افغانۍ ده.د یوه درجن (۱۲ قطیو) بیه څو افغانۍ کیږي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library


۶. د یوه کیلو ګرام غوړیو بیه ۴۰ افغانۍ ده د ۱۲ کیلو ګرامو غوړیو بیه څو افغانۍ کیږي؟

۷. یو پلورونکی په یوه ورځ کې ۲۰۰ افغانۍ ګټه لري او په یوه ورځ کې ۱۹۰ افغانۍ خرڅ لري معلوم کړئ چې په یوه میاشت کې څو افغانۍ سپمولای شي؟

**کورنۍ دنده**

۱- که چیرې یوه کورنۍ په ورځ کې ۱۰۰ ګرامه بوره مصرف کړي معلوم کړئ چې په یوه میاشت کې به څو ګرامه بوره په مصرف ورسوي؟

۲- یو تن په یوه شپه او ورځ کې ۳۲ رکعته لمونځ کوي په یوه میاشت کې به څو رکعته لمونځ وکړي؟






(c) ketabton.com: The Digital Library

# يوولسم فصل

## دوه څلويښتم لوست: د ويش (تقسيم) د عمليې پېژندنه

**هدف**: زده کوونکي د تقسيم په مفهوم باندې پوه شي او وکولی شي د تقسيم د عمليې په واسطه خپلې ورځينې ستونزې حل کړي؟

**د زده کوونکو فعاليت په ټولګي کې**

- درې زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته ودرېږي.
- ښاغلی ښوونکی دې ۱۲ دانې لوبياوي، وړې ډبرې او يا د چاپېريال نور مواد په لاس کې ونيسي. په لومړي وار دې هر زده کوونکي ته يوه، يوه دانه لوبيا ورکړي.
- دويم وار دې له پاتې شوي ۹ دانو څخه يوه، يوه دانه هر زده کوونکي ته ورکړي. $12-3=9$
- دريم وار دې له ٦ پاتې شوو څخه يوه، يوه دانه هر زده کونکي ته ورکړي. $9-3=6$ $6-3=3$
- څلورم وار دې له ۳ پاتې شوو څخه يوه، يوه دانه هر زده کوونکي ته ورکړي. $3-3=0$

په پای کې:

- هر زده کونکي ته څو دانې لوبيا وې يا نور مواد رسيدلي دي؟
- د ويش عمليه څو وارې سرته رسول شوې ده؟
- د څو وارې ۳ له ضرب کولو څخه د ۱۲ عدد لاس ته راځي.
- په ټولو حالاتوکې مو وليدل چې د ۱۲ له عدد څخه ۳ څلور وارې تفريق شوی او يا ۳ څلور وارې د ۱۲ په عدد کې شامل دی د تفريق دا تکراري عمليه د تقسيم په توګه داسې ليکو:

$12\div3=4$


بايد پوه شو چې د ۱۲ عدد دمقسوم، د ۳ عدد مقسوم عليه او د ۴ عدد د تقسيم د حاصل يا خارج قسمت په نامه ياديږي.




(c) ketabton.com: The Digital Library





۱. د درکړل شوي شکل له مخې د ویش ځواب ولیکئ.







۲. په تشو ځایونو کې مناسب عدد ونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ او په هغه کې مقسوم، مقسوم علیه او خارج قسمت وښیاست.




۳. پورته شکل او له حل شوي پوښتنې څخه په کار اخیستنې سره تش ځایونه به په مناسبو عددونو سره په خپلو کتابچو کې ډك کړئ.







(c) ketabton.com: The Digital Library

۱. د ویش د حاصل یا (خارج قسمت) د پیدا کولو لـه پاره د حـل شـوي مثال په ډول د تفریق عـملیه سرته ورسوئ او ځواب یې ولیکئ.




۲. د عددونو د خط په مرسته دحل شوي مثال پـه ډول د تفریـق عـملیې سرته ورسوئ.






د عددونو د خط په مخ باندې د ?=۴÷۱٦ افادې د ویش حاصل په لاس راوړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library


## درېم ځلوېښتم لوست: د دوه رقمي عددونو ویشل په یوه رقمي عددونو باندې


هدف : زده کوونکي وکړای شي دوه رقمي عددونه په یوه عدد باندې وویشي.
د دوه رقمي عددونو ویش طریقه په یوه رقمي عدد باندې یوه شي

لومړی مثال: غواړو د ۹۸ عـدد په ۷ بانـدې وویـشو لیدل کیـږي چې د مقسوم د کیڼې خوا رقـم یعنې ۹ د مقسوم علیه یعنې د ۷ څخه لوی دی او په هغـه بانـدې ویشل کیږي. چې خارج قسمت يې (۱) دی، هغه په ۷ کـې ضـرب کوو او د ضرب حاصل يې تـر ۹ لاندې لیکـو او تفریق کـوو یـې چې د تفریق حاصل يې ۲ کیږي. بیا ۸ را کښته کـوواو د تفریـق د حاصل ښـي خواته يې لیکو چې د ۲۸ عدد لاس ته راځـي چـې د ۲۸ عــدد لاس تـه راغـي اوس د ۲۸ عــدد پـه ۷ بانـدې ویـشو د ژبنـي ضـرب څخـه پـه کـار اخیستنې سره پوهیږو چې.

$28 = 7 \times 4$

کیږي د ۴ عـددپه خارج قسمت کې لیکو او په ۷ کې ضرب کوو دا د ضرب حاصل د ۲۸ لاندې لیکو او تفریق کوو. په نتیجه کې لیدل کیږي چې د تفریق حاصل يې صفر او خارج قسمت يې د ۱۴ عدد په لاس راځي.











(c) ketabton.com: The Digital Library


دوهم مثال: د ۸۲ عدد په ٦ باندې ویشو. که چیرې دویش د حاصل د پیدا کولو له پاره ژبني ضرب ته پاملرنه وکړو لیدل کیږي چې. ۴۸ = ٦ × ۸ نو لیکلی شو چې: ۸ = ٦ ÷ ۴۸

او یا




دریم مثال: د لاندې پوښتنې د حل طریقی ته پاملرنه وکړئ.







لاندې پوښتنې خپلو کتابچو ته نقل او حل یې کړئ.

| | | |
|---|---|---|
| ۷۲ ÷ ۹ | ٦۳ ÷ ۸ | ۹۴ ÷ ٦ |



(c) ketabton.com: The Digital Library


(c) ketabton.com: The Digital Library


مشق او تمرين

۱- د لاندې عمليو خارج قسمت يا د ويش حاصل له پاتې شوې (باقيمانده) سره پيداکړئ.

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۷ | ۲۲ | ۷ | ۲۸ | ۸ | ۳٦ | ۷ | ۴۹ |
| ۸ | ٦۷ | ۴ | ۳۴ | ۸ | ۳۲ | ٦ | ۴٦ |

۲- د مقسوم عليه، ژبني ضرب په کار ولو سره هغه لوی عدد پيدا کړئ او په تشو ځايونوکې وليکئ. په داسې حال کې چې د ضرب حاصل يې له مقسوم عليه سره مساوي او يا کوچنی له مقسوم څخه وي چې په دې صورت کې بايد پاتې شوی له مقسوم عليه څخه کوچنی وي لکه لاندينی مثال:



**پوښتني:**

۱- عبدالله غواړي چې ۸۸ دانې نيالگي په ۹ پټيو کې په مساوي توگه کېښېنوي، معلوم کړئ چې څو نهاله زيات پاتې کيږي.

۲- که چيرې په يوه مو ټر کې ۹ تنه ځاى شي نو د ۷۲ تنو له پاره څو موټرو ته اړتيا ده؟

۳- که چيرې په يوه غوري کې ۲ تنه ډوډۍ و خوري معلوم کړئ چې د ٦٨ تنو له پاره څو غوريا نو ته اړتيا ده؟

۴- که چيرې يو زده کوونکى ٦ ټوکو کتابچو ته اړتيا ولري ٥٦ ټوکه کتابچې څو زده‌کوونکو ته رسيږي او څو کتابچې پاتې کيږي؟

۵- که چيرې يوې کورنۍ په يوه اونۍ کې ٨٦ کيلو واټ برق مصرف کړى وي، معلوم کړئ چې په يوه ورځ کې يې څو کيلو واټ برق مصرف کړى دى؟

۶- که چيرې يوتن په يوه ورځ ٨ گرامه بوره مصرف کړي نو ٩٦ گرامه بوره د هغه د څو ورځو له پاره بس کوي؟

۷- ٦٣ تنه په ۹ موټرو کې ځي، که چيرې په هر موټر کې د سړيو شمېر سره مساوي وي معلوم کړئ چې په هر موټر کې څوتنه ناست دي؟

۸- په يوه فارم کې ۴۸ څاروي شته دي که چيرې په نوموړي فارم کې ٦ ډوله څاروي په مساوي توگه وي. د هر ډول څارويو شمير پيداکړئ.

۹- ۴۸ زده کوونکي په مساوي گروپونو کې په وار سره د خپل استاد د پوښتنې له پاره روغتون ته ولاړل معلوم کړئ چې په هر گروپ کې څوتنه زده کوونکي دي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library


# څلور څلويښتم لوست: د دري رقمي عددونو ويشل په يوه رقمي عدد باندې


**هدف:** زده کوونکي وکړای شي دري رقمي عددونه په يوه رقمي عدد باندې تقسيم کړي.

لومړی مثال: د ٦٩٣ عدد د ٣ په عدد باندې ويشو.

حل: لومړی د مقسوم د سلیزو مرتبه يعنی ٦ د ٣ په عدد باندې ويشو چې خارج قسمت يې ٢ دی. په خارج قسمت کې ليکو بيا ٢ په ٣ کې ضرب کوو او د ضرب حاصل د ٦ لاندې ليکو او تفريق کوو يې چې د تفريق حاصل يې صفر کيږي.

په همدې ډول د لسيزو او يويزو مرتبو رقمونه را کښته کوو او د ويش عمليه سرته رسوو. په پای کې ليدل کيږي چې پاتې يې صفر دی.





دوهم مثال: د ١٣٦ عدد، د ٥ په عدد باندې ويشو. ليدل کيږي چې دسليزو رقم له مقسوم عليه څخه کوچنی دی نود لسيزو رقم دسليزو له رقم سره چې ١٣ کيږي. په ٥ باندې ويشو. په دې صورت کې د ويش حاصل يې ٢ دی. ٢ په ٥ کې ضرب کوو. د ضرب حاصل له ١٣ څخه تفريق کوو چې تفريق حاصل يې ٣ کيږي اوس د مقسوم ديويز رقم يعنې ٦ را کښته کوو د٣٦عدد حاصل کيږي. هغه په ٥ باندې وېشو چې د وېش، حاصل يې ٧ کيږي. د ٧ عدد په ٥ کې ضرب کوو او د ضرب حاصل يې له ٣٦ څخه تفريق کوو په پای کې ليدل کيږي چې د (١) عدد پاتې شوی او له مقسوم عليه څخه کوچنی دی.





(c) ketabton.com: The Digital Library

د لاندې پوښتنو حل په نظر کې و نیسئی:

| ۸ | ۵۷۴ |
|---|---|
| ۷۱ | ۵٦ |
| | ۱۴ |
| | ۸ _ |
| | ٦ پاتې |




خرنګه چې د لسیزو د مرتبې رقم یعنی ۳ له مقسوم علیه شخه کوچنی دی د خارج قسمت په اړوند.مرتبه کې صفر لیکو. او بیا دمقسوم بل عدد را کښته کوو.

کورنی دنده

هر یو زده کوونکی دې د وېش یوه پوښتنه په خپله کتابچه کې و لیکي او حل دې کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

### پوښتنې:

۱- په لاندي پوښتنو کې د وېش عمليې سرته ورسوئ او د وېش حاصل يې پيدا کړئ؟

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۷۰ \| ۹ | ٦٦ \| ۷ | ۴۱ \| ٦ | ۸٦۷ \| ۵ |
| ۲۸۵ \| ۳ | ۱٦۸ \| ۸ | ۳۷۵ \| ۱ | ۴۲۰ \| ۱ |
| ۴۹۸ \| ۸ | ۱۰۰ \| ۷ | ۷۰۹ \| ۷ | ۹٦۰ \| ٦ |

۲- يوه بزګر ۹۸۰ کيلو ګرامه غنم حاصل واخيست که چيري نوموړی بزګر د ورځې ۷ کيلو ګرامه غنم مصرف ولري معلوم کړئ چې نوموړي غنم د بزګر د څو ورځو له پاره بس کوي.


۳- يوه بنوال ۸۰۱ کيلو ګرامه زردآلو حاصل واخيست. که چيري وغواړي هغه په ۹ کيلو ګرامه صندوقونو کې وويشي. نو څو صندوقونو ته اړتيا پيدا کوئ د اړتيا وړ صندوقونو شمېر معلوم کړئ؟




(c) ketabton.com: The Digital Library

## پنځه څلويښتم لوست: د ضرب او وېش د عمليو ازموينه د يو بل په واسطه


هدف: زده کوونکی وکړای شي د ضرب او وېش عمليې د يو بل په واسطه وآزموي. پاملرنه وکړئ: تا سو وينئ چې د ضرب هر يوه تساوي له پاره، دويش يا تقسيم دوه تساوي ليکلاي شو:



۶×۳=۱۸



۱۸÷۳=۶



۱۸÷۶=۳

د ضرب او ويش د آزمولو د عمليو په کار ولو سره ليکلی شو چې:

۵×٦=۳۰ | ۷×۴=۲۸ | ۱۱×٦+۲=?

۳۰÷٦=۵ | ۲۸÷۴=۷ | ٦٦+۲=٦۸

۳۰÷۵=٦ | ۲۸÷۷=۴

٦۸ | ٦
- ٦ | ۱۱
۸
- ٦
۲

د پورتنيو پوښتنو له حل څخه نتيجه اخستلای شو که چيرې د ضرب حاصل په يوه جز دضرب باندې و ويشو بل جزء د ضرب لاس ته راځي او همدارنګه که چيرې مقسوم عليه په خارج قسمت کې ضرب او له پاتې شوي عدد سره جمع کړو مقسوم لاس ته راځي.

**کورنی دنده**

د ٦ او ۸ د ضرب حاصل په لاس راوړئ او د هغه له پاره د وېش يا تقسيم دوه عمليې وليکئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

شق او تمرين

۱- په تشو ځايونو کې مناسب عدد وليکئ.

☐ =٦ ÷ ۵۴ ــــــ ☐ = ۹÷ ۷۲

٦ =۹ ÷ ☐ ــــــ ☐ = ۸ ÷ ۷۲

=۵۴ ☐ × ٦ ــــــ ۷۲ = ۸ × ☐

☐ =۴ ÷ ۳۲ ــــــ ☐ = ۳ ÷ ۲۱

۴ =۸ ÷ ☐ ــــــ ۳ =۷ ÷ ☐

۳۲ =۸ × ☐ ــــــ =۲۱ ☐ ×۳

۲- تش ځايونه په مناسبو عدد و نو سره ډك کړئ.

| | | |
|---|---|---|
| ۷×۸= ۵٦ | ۹×۸= ۷۲ | ۹×۷= ٦۳ |
| ۵٦÷۸= ☐ | ۷۲÷۸= ☐ | ٦۳÷۷= ☐ |
| ۵٦÷۷= ☐ | ۷۲÷۹= ☐ | ٦۳÷۹= ☐ |

۳- په لاندې پوښتنه کې د مقسوم ، مقسوم عليه او خارج قسمت
ترمنځ اړيکې په غور سره وګورئ.

خارج قسمت ـــ مقسوم عليه ـــ مقسوم

۵ = ۳ ÷ ۱۵

۱۵ = ۵ × ۳

د (....) ويشل په مقسوم عليه باندې د خارج قسمت د پيدا کولو څخه
عبارت دي که چيرې خارج قسمت په (.....) ضرب کړو مقسوم په لاس
راځي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- لاندې پوښتنې حل او امتحان کړئ.

| | | |
|---|---|---|
| ۹۷۰ ÷ ۸ | ۶۴۰ ÷ ۵ | ۹۷۲ ÷ ۸ |
| ۱۰۰ ÷ ۹ | ۱۰۵ ÷ ۸ | ۷۰۶ ÷ ۶ |

۵- د ۵ مترو تېوکر بیه ۷۵ افغانۍ ده د یوه متر تېوکر بیه معلومه کړئ.

۶- که چیرې یو کارګر په میاشت کې ۲۱۰ متره تېوکر اوبدي معلوم کړئ چې نومړی کارګر په ۹ ورځو کې څو متره تېوکر اوبدلای شي؟

۷- که چیرې یو مامور په یوه اونۍ کې ۵٦۰ افغانۍ تنخا (معاش) واخلي معلوم کړئ چې په یوه ورځ کې څو افغانۍ تنخا لري.

کورنی دنده

لاندې پوښتنې حل کړئ.

| | |
|---|---|
| ٦۰۹ ÷ ۸ | ٦۱۱ ÷ ۸ |



(c) ketabton.com: The Digital Library

# دولسم فصل
# کسر

## شپږ څلوېښتم لوست: د کسر پېژندنه


هدف: زده کوونکی $\frac{۱}{۲}$ د یوه شي د نیمايي په توګه وپېژني او $\frac{۱}{۳}$ د یوه شي د دریمې برخې په توګه وپېژني او $\frac{۲}{۳}$ د یوه شي دوه دریم برخې په توګه وپېژني.

پاملرنه وکړئ:

که مونږ یوه منه په دوو مساوي برخو ووېشو په حقیقت کې مومنه نیمايي کړې ده چې په ریاضي کې داسې لیکل کیږي: $\frac{۱}{۲}$




که مونږ یوه منه په درې مساوي برخو ووېشو او له هغه څخه یوه برخه واخلو دا یو دریمه برخه داسې ښودل کیږي: $\frac{۱}{۳}$




که چیرې اوس د منې له دریو برخو څخه یوه برخه په یوه غاب کې او دوه برخې یې په بل غاب کې کښېږدو داسې لیکو:

الف

الف: $\frac{۱}{۳}$ برخه په یوه غاب کې



$\frac{۱}{۳}$

ب: $\frac{۲}{۳}$ برخې په بل غاب کې




$\frac{۲}{۳}$



(c) ketabton.com: The Digital Library

د لاندې شکلونو اړوند کسرونو ته پاملرنه وکړئ.





د الف په شکل کې د $\frac{۱}{۲}$ کسر ښيي چې د دوو برخو څخه يوه برخه يې جلا شوې ده.

د (ب) په شکل کې د $\frac{۱}{۳}$ کسر ښيي چې له دريو برخو څخه يوه برخه يې جلا شوې ده.

د (ج) په شکل کې د $\frac{۱}{۴}$ کسر ښيي چې له څلورو برخو څخه يې يوه برخه جلا شوې ده.

د (د) په شکل کې د $\frac{۱}{۶}$ کسر ښيي چې له شپږو برخو څخه يوه برخه جلا شوې ده.

د دې دپاره چې تا سو د يوه کسر سره ښه پېژندګلوي پيدا کړئ لاندې کسر ته پاملرنه وکړئ.








(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مشق او تمرین**

**۱- د لاندې شکلونو د تورو شوو، او سپینو برخو، کسري برخې په خپلو کتابچو کې وښایاست او وې لیکئ.**





تور ___ سپینه ___ تور ___ سپینه ___

**۲- لاندې جدول بشپړ کړئ.**

| کسر | صورت | مخرج |
|---|---|---|
| $\frac{۱}{۲}$ | ۱ | ۲ |
| $\frac{۲}{۳}$ | | |
| $\frac{۳}{۵}$ | | |
| $\frac{۴}{۵}$ | | |
| $\frac{۵}{۶}$ | | |


**کورنی دنده**

**د $\frac{۲}{۵}$، $\frac{۴}{۵}$، $\frac{۲}{۳}$ په کسرونو کې صورت او مخرج ولیکئ.**


۳- له لاندې جدول څخه کسرونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| صورت | ۳ | ۴ | ۵ | ٦ | ۲ | ۱ |
| مخرج | ۴ | ۷ | ۸ | ۷ | ۵ | ٦ |
| اړوند کسر | $\frac{۳}{۴}$ | | | | | |

۴- کوم شکل په دوو مساوي برخو ویشل شوی دی د هغه اړوند کسر په خپلو کتابچو کې ولیکئ.




۵- کوم شکل په درې مساوي برخو ویشل شوی دی د هغه اړوند کسر په خپلو کتابچو کې ولیکئ.





**کورنی دنده**

د $\frac{۱}{۳}$، $\frac{۲}{۳}$، $\frac{۱}{۴}$ کسر د شکلو نو په واسطه په خپلو کتابچو کې وښیاست.




(c) ketabton.com: The Digital Library


۶- په لاندې شکلونو کې کوم يوه ته $\frac{۱}{۴}$ کسر ليکلی شـو. د هغـه کسر وليکئ!




۷- په لاندې شکلونو کې د رنـګ شـوي برخـو او سـپينو برخـو کسرونه، د نمونې په ډول په تش ځايونو کې وليکئ.




| | |
|---|---|
| مساوي برخې | څلور |
| رنګ شوی | $\frac{۳}{۴}$ |
| سپينه | $\frac{۱}{۴}$ |





| | |
|---|---|
| مساوي برخې | |
| رنګ شوی | |
| رنګ شوي نه دي | |




| | |
|---|---|
| مساوي برخې | |
| رنګ شوی برخې | |
| سپيني برخې | |


۸- لاندې شکلونو ته پاملرنه وکړئ.

الف




| | |
|---|---|
| مساوي برخې | |
| رنګ شوی برخې | |
| سپيني برخې | |

ب



| | |
|---|---|
| مساوي برخې | |
| رنګ شوی برخې | |
| سپيني برخې | |

ج




| | |
|---|---|
| مساوي برخې | |
| رنګ شوی برخې | |
| سپيني برخې | |




(c) ketabton.com: The Digital Library

۹- لاندې هر یو شکل په خپلو کتابچو کې رسم کړئ د هر شکل د اړوند کسر په نظر کې نیولو سره د هغه برخې په خپلو کتابچو کې تورې کړئ!





۱۰- د حل شوي مثال په ډول د لاندې شکلونو د رنګ شوو برخو کسر کینې خواته او د سپینو برخو کسر ښي خواته ولیکئ.






(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۱- د لاندې شکلونو د رنګ شوو برخو او سپينو برخو اړوند کسرونه په غور سره وګورئ. د اړوند شکل په کارولو سره، لوی کسر او کوچنی کسر په شفاهي توګه وښياست.




**کورنی دنده**

د $\frac{۲}{۳}$، $\frac{۲}{۵}$، $\frac{۲}{۷}$، $\frac{۲}{۸}$ او $\frac{۲}{۹}$ کسرونه د شکل په رنګ کولو سره وښياست.



(c) ketabton.com: The Digital Library


۱۲- د $\frac{۳}{۵}$ ، $\frac{۳}{۷}$ ، $\frac{۳}{۸}$ او $\frac{۳}{۹}$ کسرونه د شکل د رنګ کولو په واسطه وښیاست.

۱۳- د $\frac{۴}{۵}$ ، $\frac{۴}{۶}$ ، $\frac{۴}{۷}$ ، $\frac{۴}{۸}$ او $\frac{۴}{۹}$ کسرونه په شکل کې وښیاست.


۱۴-د $\frac{۵}{۶}$ $\frac{۵}{۷}$ $\frac{۵}{۸}$ او $\frac{۵}{۹}$ کسرونه د شکل د رنګ کولو په واسطه وښیاست. رنګ شوي او سپینې برخې سره پرتله کړئ

د <،> او = نښو په واسطه يې وښياست.

۱۵- د لاندې شکلونو د رنګ شوو برخو کسر ښئ خواته او د سپینو برخو اړوند کسر کيڼې خواته ولیکئ.




۱۶- د لاندې شکلونو د رنګ شوي برخو کسر ښئ خواته او د سپینو برخو کسر کيڼې خواته ولیکئ او یو له بله سره يې پرتله کړئ.



کورنۍ دنده

د لاندې شکل د رنګ شوو برخو کسر کيڼې خواته او د سپینو برخو کسر ښی خواته ولیکی او پرتله يې کړی.






(c) ketabton.com: The Digital Library

**پوښتني:**

۱- احمد د یوه مستطیل کاغذ څخه $\frac{۱}{۳}$ برخه پرېکړه، تاسو هم دا کار په عملي توګه سرته ورسوي او وواياست چې څومره برخه يې پاتې ده په کسر سره يې وښياست.

۲- کریم یوه دايره په درې مساوي برخو ووېشله او د هغې $\frac{۲}{۳}$ برخې يې توري کړې څومه برخه يې سپينه پاتې ده د رسم په واسطه يې وښياست.

۳- د لاندې شکلونو د رنګ شوو او سپينو برخو کسر په خپلو کتابچو کې وليکئ!



۴- یو لیتر اوبه څو ګیلاسه کیږي؟

۵- یوه دايره رسم کړئ $\frac{۱}{۴}$ برخه يې توره کړئ.

۶- له یوه ګیلن اوبو څخه یو لیتر اوبه څرنګه جلاء کوئ؟

۷- د >،< او = نښو په کارولو سره لاندې درکړل شوي وزنونه سره پرتله کړئ.

| | | | |
|---|---|---|---|
| الف: | ۵۰۰ ګرامه | ☐ | ۲ کیلو ګرامه |
| ب: | ۳ کیلو ګرامه | ☐ | ۳۰۰ ګرامه |
| ج: | ۷۵۰ ګرامه | ☐ | نیم کیلو ګرامه |
| د: | ۲۵۰ ګرامه | ☐ | ۷۵ ګرامه+ ۱۰۰ ګرامه + ۲۵ ګرامه |

**کورنی دنده**

یو مستطیل رسم کړئ چې اوږدوالی یې ٦ سانتي متره او سور یې ۳ سانتي متره وي او بیا د هغې $\frac{۱}{۲}$ برخه توره کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

۸- یوه پخوونکی ۷۵۰ گرامه وریجې درلودلې چې ۴۵۰ گرامه یې د هغو څخه پخې کړې معلوم کړئ چې څو گرامه وریجې پاتې دي.

۹- یوه ډوډې پخوونکی یو کیلو گرام خمیره درلودله چې له ۳ ورځو څخه وروسته ۲۵۰ گرامه خمیره ورسره پاتې وه معلوم کړئ چې په درې ورځو کې یې څومره خمیره مصرف کړی ده؟

۱۰- یوې مور ۵ کیلو گرامه وریجې، ۵۰۰ گرامه بوره، ۲۵۰ گرامه غوړي او ۲۵۰ گرامه لوبیا راونیول. د مور د کڅوړې د شیانو وزن معلوم کړئ.

۱۱- لاندې شیان د څه شي په واسطه اندازه کیږي ځوابونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ؟

الف: نفت

ب: د وره لوړوالی

ج: اوبه

د: بوره

که چیرې یو لوښی د ۱۲ معمولي گیلاسونو او بوځای ولري. معلوم کړئ چې په نوموړي لوښي کې څو لیتره اوبه ځائیږي؟

۱۲- د لوست مواد او لوازم چې لاندې اندازې ولري وښیاست.

الف: له ۹ سانتیمترو څخه لږ وي.

ب: د یوه متر په حدود کې وي.

ج: د ۱۰ او ۲۰ سانتي مترو په منځ کې وي.

۱۳- د ۳ سانتي مترو، ۷ سانتي مترو او ۱۲ سانتي مترو په اندازه خطونه رسم کړئ.

۱۴- د هر غوري ډوډۍ له پاره ۳ منې لرونکي یو غاب ته اړتیا ده. که چیرې ۲۱۰ دانې منې ولرو څو دانو غوریو او څو دانو غابونو ته اړتیا ده؟

۱۵- د ٦ دانو قلمونو بیه ٦٦ افغانۍ ده د ۷ دانو قلمونو بیه معلومه کړئ؟

۱۶- زرغونه اوس ۱۲ کلنه ده که چیرې له ۳ کلو وروسته د هغې عمر د هغې د مور د عمر نیمایې شي د زرغونې د مور اوسنی عمر معلوم کړئ.

۱۷- که چیرې احمد د ورځې ۹ افغانۍ سپما وکړي. د هغه د یوې میاشتې او یو ه کال د سپما اندازه معلومه کړئ؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**